2 - AUG 16
Copy 1963

کابل

(۱۱)

یرله پسې ګڼه ۵۲۰۸

علمی اجتماعی او ادبی

ساواغه (۱۳٤۱ش) کال د (۱۳۸۲ق) کال د ۱۹٦۲ کال اکتوبر او نومبر

شمېر	لیکنه	لیکوال	مخ
۱ـ	ریالیزم	روهی	۱
۲ـ	ماکسیم گورکی او ادبیات	ظاهر افق	٥
۳ـ	درحمان باباقومی افکار	عبدالله بختانی	۱٤
٤ـ	ادراك	دولت محمدلودین	۲۱
٥ـ	دپښتو ادبی او شعری قاموس	واسعی	۳٦
٦ـ	دپښتو معاصر شعر ته یوه کتنه	سعدالدین شپون	٤٦
۷ـ	توفانی کیږدی	گل محمد نورزی	٦٦
۸ـ	شعرونه	قبیل ـ اتمان	۷۱

امتیاز — دپښتو ټولنې

مشر — گل پاچا الفت

مسئول مدیر — محمد صدیق روهی

روهی

ریالیزم

Realism

دبشرپه تاریخ کښې نولسمه مسیحی پیړۍ دډیره وجوهاتو پربنا خاص اهمیت اوارزښت لری البته ترټولو زیات اواساسی اهمیت یې دادی چه په همدغه پیړۍ کښې زیات ماشینونه اودتولید نوی وسایل منځ ته راځی اوپه کار لویږی. انسان چه دتاریخ دجبری تکامل پراساس ـ ماشینونه اودتولید نوی آلات اختراع کوی پخپله دماشین غلام ګرځی اوله هغې فضاڅخه چه دماشین په ذریعه ایجاد شوې ده ځان نشی خلاصولی. دتولید نوی بڼه دټولنې داجتماعی روابطو اوجریاناتو شکل نه تغییر ورکوی لاسی کارونه په تدریجی ډول خپل ځای ماشین ته پرېږدی دتولیداتو حجم اواندازه زیاتیږی، دتجارت بازار رونق مومی اودپخوانیو خانانو اوملکانو اقتدار دسوداګرو اوسرمایه لرونکو دزیاتیدونکی قدرت په مقابل کښې له زوال سره مخامخ کېږی دسرمایه دارۍ دنظام ونه په مترقی هیوادونو کښې خپلې ریښې ټینګوی اوداستعمار اواستثمار پاڼې ترې شنې کېږی.

په همدې وختونو کښې چه دتولید طرز بدلون مومی دهغې پر بنسټ اجتماعی مؤسسې اودخلکو ذهنیتونه اوددوی ترمنځ دروابطو ډول هم تغییر کوی. دتجارت له ترقی سره تجارتی ادب اوتجارتی اخلاق اوقوانین منځ ته راځی. په دې عصر کښې طلا نه یوازې دتجارتی مبادلې واسطه ګڼل کېږی بلکه دشرافت اوحیثیت معیار هم بلل کېږی

دطلاخا وندان له خپلو شتمنیو څخه، دآزادي استفادې دپاره دآزادۍ اولا قیدۍ غږ پورته کوی. په اقتصاد او تجارت، هنر او ادب، رسم او رواج او دثقافت په ټولو برخو کښې دآزادۍ غوښتنې افکار منعکس کېږی. دغه تاریخی نهضت چه دلبرالیزم په نامه یادیږی دخپل وخت شعار ګرځی. دافتصادی لبرالیزم په تقلید په هنر او ادب کښې هم دآزادۍ عنصر غلبه مومی او درمانتیسیزم ادبی مکتب منځ ته راځی.

په دې کښې شك نشته چه دغه د آزادۍ غوښتنې مفکوره دوخت دضرورت او دتاریخی تکامل پراساس په لومړی سر کښې دټولو له خوا ښه استقبال شوه. سرمایه لرونکو دخپلې پانګې دزیاتولو او له هر ډول وسایلو څخه دآزادې استفادې دپاره لبرالیزم ته اړه درلوده - لیکوالو او هنرمندانو دادبی او هنری آثارو د تخلیق او دفکر داظهار دپاره، او دولس محکومو طبقو دفیؤډالیستی مقرراتو څخه د خلاصون په غرض ددې نوی مترقی جریان سره دزړه له کومې علاقه څرګندوله: اماډیره موده لا نه وه تیره شوی چه اکثر خلك له دغسې «ازادی» څخه متنفر او بیزاره شول.

دټولنې دبیوزلو او بی برخې وګړو دپاره لبرالیزم او انفرادیت Individualism لکه څنګه چه یې تصور کیده - ګټور ثابت نشو. ځکه هغه څوك چه شپه او ورځ دمعاش په تلاش کښې مصروف او د تفریح او هوساینې دپاره وخت او وسایل نه لری - دهغو یه نظر «آزادی» یو مهمل لفظ دی. دغه آزادی د دوی د پاره یو بل ډول لومه وه:

له دامه که دې خلاص کړم په نفس کښی دې ایسار کړم
صیاده! ماخو څورنګه زندان لید لی دی. (۱)

(۱) دښاغلی الفت شعر.

دمنځنی طبقې روشنفکره کسان، هنرمندان اوسترلیکوال دې موضوع ته ملتفت شول چه ټولنه دداسې خلکو په پنجو کښې لویدلی د چه دخپلو شخصی ګټو دتأمین دپاره بی وسیلې او بیوزلی کسان سره مړ وړی ی . دبشردوستی حس اود همنوعانو احترام لهمنځه تللی دی. داخلاقو اوانسانی عواطفو د پاره تابوت جوړ شوی دی. دخلکو یوازینی هدف دادی چه دزرو سکې راغونډې کړی ی . بالزاك مشهور ریالیست لیکوال پهخپلو آثارو کښې دې حقیقت ته اشاره کوی چه ځنګه دطلایهواسطه دکورنی مینه لهمنځه تللې ده، دمیندو او پلرونو مینه یې لهاولاد نه کمه کړې ده، ازدواج تهیې دیوې تجارتی معاملې شکل ور کړی دی اودوستی یې پهټګی اوریابنا کړې ده.

پهداسې شرایطو کښې اکثرهنروال له ټولنې اودوخت لهجریان څخه متنفر او بیزاره کېږی. ځینی لهواقعیت څخه تښتی اودخیال او تصور ځنګلونو ته پناه وروړی ځینی د «عاج پهمانی» کښې کښینی اوځا نته دخیال جهان جوړوی. ځینی دهنر دښکلی مجسمې پهمخ اوزلفو لاس وهی او خپل وخت پرې تیروی او «هنردهنر دپاره» خپل شعار ګرځوی. ځینی نور د تیرو وختو نوا و عظمتو نو په فکر کښې لوبږی اوهیله کوی چه دګړی ستنې بهبیرته راوګرزوی.

څهموده وروسته ځینی مفکرین دخپلې توجه واګی دواقعی دنیا خواته راکاږی. ددوی پهزړونو کښې دامید ډبوې بلیږی. ددې پرځای چه دخپل سوز غمې دتخیل پروزرونو اسمان تهولیږی دځمکی پرمخ یې سویو زړونو او خیری ګریوانونو تهدتحفې پهډول وړاندې کوی شاعراولیکوال دخپل وخت فجایعو او مظالمو ته ګوته نیسی او زیار باسی چه دیر دې ترشا کاږو نه خلکو ته پهرښتینی بڼه وښیی. دا هغه وخت دی چه دزیار ایستونکو او غم ځپلو

ډله‌دیوه متشکل قوت په حیث په‌ټولنه کښې ځانته‌ځای پیدا کوی. کوم هنرمند چه‌له‌جامعې سره رښتینی همدردی لری نور نشی کولی چه‌هنردهنرد پاره وقف کړی اوپه خیالی جهان کښې ژوند وکړی. لیکوال دې حقیقت ته ملتفت کېږی چه‌دوړو کتوب ښکلی اوخیالی دورې‌ته بیرته ورګرځیدل امکان نه‌لری اود آسمان دسپینو اوتورو وریځو پرشاسپریدل اودستورو اوسپوږمۍ سره خبرې کول دځمکې دخلکو واقعی دردونه نشی تسکین کولی. واقعیت خوښوونکو هنرمندانو درمانتیسم دمعجون استعمال پریښود اوپرځای یی دریالیزم نسخه ناروغې ټولنې ته‌وړاندې کړه. دوی ددې حقیقت احساس وکړ چه نوې مدنیت سره له ټولو معایبو دفیوډالیزم له‌زاړه‌سیستم څخه‌غوره‌دی همدارنګه‌له‌ماشینیزم سره مبارزه په‌دې ډول نه کېږی چه‌ماشینونه مات کړای شی اولرې یې وغورځوی. دوی وپوهیدل چه دټولنې اقتصادی اواجتماعی تضادونه دتیښتې اونفی کولو په واسطه نه‌حل کېږی بلکه‌بایدواقعیتونه‌په‌ښکاره‌ډول بیان‌شی. په‌واقعی‌ډول‌سره‌داجتماعی‌ژوندتحلیل‌همیشه دغلم ځپلو اوبیوزلوډلی په ګټه‌تمامیږی هغه‌څوك چه‌نوی‌په‌پښودریږی‌دموجوده وضعیت دپیژندلو دپاره باید هرڅه‌دسر په‌سترګووینی اودرك یې کړی ددې پر عکس هغه څوك چه‌غواړی‌«اوبه‌خړې کړی او کبان پکښې ونیسی» بایدهرڅه‌ته دابهام، افسانې تقدس، الهام اواسرارورنګ ورکړی اودواقعیت پرمخ ماسك وغوړوی.

د همدې ډول طرز تفکر په مطلع کښې دریالیزم مشهوراوپیاوړی لیکوال لکه بالزاك اودیکنس دادب په‌آسمان کښې دروښانه ستورو په شان راوختل او بخپله ځلایې داجتماعی کاروان لاره رڼا کړه (نوربیا)

د ظاهر افق څېړنه

ماکسیم ګورکی او ادبیات

(۱۸۶۸-۱۹۳۶م)

ګورکی چه اصلی نوم ئې «الیکسی ماکسیموویچ پیشکوف» دی د (ولګا) پر غاړه د «ویژنیم» په نوی ښار کښې په ۱۸۶۸ ع کال پیدا شوی دی. دی دیوې هسکیرلی کورنۍ څخه وپلارئی پخوا مړ سوی واود کورټول تکلیفونه ئې دنیکه په غاړه کښې ورلو یدلی و و.

دده نیکه رنګریزی کوله کله به ئې دوډی نه وه او کله به ئې کنغ نه سره برابریدی خو را غریب او اولاد هم پرسراخستی و. نه پوهیده چه څه وکړی او پر کومه ولاړسی. ګورکی یوه زړه سواندی اناهم درلوده چه ډیره پرګرانه وه او هغې به هم وخت په وخت پندونه ورښوول کله به ئی نکلونه ورته کول خو کله به ئی لنډې کیسی ورته ویلې. ورځی اوشپې تیری سوې چه رنګریز ترهغه لاپسې مسکین سو د رنګریزی خم اونور اسباب ئې پر بازار خرڅ کړل اوس نونه پوهیږی چه څه وکړی او اولاد پر کومه بوزی. ګورکی چه لا کوچنی دی ددې خوا زیو احساس ورځ په ورځ یکښې زیاتیږی. کله بازار ته ورووځی حاشې اومیخونه ټول کړی خو کله بیا په خورا معصومه وضعه د کوڅو زاړه ګودړی کورته وروړی اما دنیکه ئې نه په دې شیانو نس مړیږی او نه ئې دتن پټیدوله پاره مرسته کوی.

هغه ووچه بی ګناه (ګورکی) یې دیوه ظالم دکانداره سره شاګرد کړ هغه به کله خپل کارپه کاوه خو کله به یې د کورپه کارو پسې استاوه ددې له پاره چه دی خپل ځان ونوروته ښه اومخلص معرفی کړی نو ګورکی بیچاره دنورو ګاونډیو په کارو پسې هم استوی. ددې دکاندار کارونه خورا ډیردی اوټوله پرده باندې کوی اما نه دومره پیسې ورکوی چه دده لومړنی احتیاجات رفع کړی اونه دجهانداری کارورښیی دده نیکه چه اوس نود لاس اوپښو څخه لویدلی دی په یوه ګوله ډوډی پسې لالهانده دی نو یی ګورکې ددغه دکانداره څخه راولاړ او دیوبل دکانداره سره یې شاګرد کړ چه ګوندې هغه به یو څه ډیرې پیسې ورکړې اود بیچاره نیکه حلق به یې په لوندشی اما خبره هغسې نه وه دې دکاندار (چه نخشه ایستونکی و) هم خپل د دکان کارونه په کول اوهم یې د کور په سودا پسې استاوه، په دې مظلوم وړوکی ګورکی باندې یې کله بوټې ماتول کله یې لوښی په پربولل او ځینی وختونه یې دآشپز خانې کارهم په کاوه ولې نه ئې څه وخت پیسه ډیره ورکړی ده اونه یې کوم وخت زړه پرسوی دی.

ده بیچاره چه دازحمتونه ولیدل نو یې بیله تیښتې څخه بله چاره ونه لید له او (ولګا) ته ولاړ. هورې دکښتی وانانوه سره مزدور شو هلته نه چا کښتی وانی ور ښوولـه اونه یې ماشین ته ور پر یښاوه خو صرف کله به یې پنجې او کاچوغې په پا کولې او کله به یې نوره صفایی په کوله.

ده یو څو وختونه مزدوری اوغریبی وکړه خو څه وخت چه کښتی وانی څه موده بنده سوه نودی بیرته خپل ښارته راغی اوهوری بیاد دیوه دکانداره سره شاګردسو. دلته چه به ئې مزدوری کوله پټه پټه مطالعه یې هم ورسره ساتله. دمختلفو شاعرانو اوادیبانو کتابونه یې کل چه د (پوشکین) پر اشعارو باندې یې هم ښې سترګې روڼی شوی دی اودهغه دناولو څخه یې ښه خوند اخستی دی.

دی چه وشپاړسو کلونو ته ورسید، نوبې وغوښتل چه پوهنتون ته ورداخل شی اما داکاریو اسانه کارنه و.

نوپه دغه وخت کښې یې بیا وخواری ته اوږه ورکړه کله به یې پنډی توب کاوه خو کله به یې بوټی ماتول امادې ژوند هم خوند ورنکړاو خـو را تـریخ ورباندې تیریده.

«دلته چه دی داهره صحنه اوواقعه وینی دده دناول لیکنې دپاره یوعالم خدمت دی». څه عمر یې لاپه دغه ډول ترخه ژوند سره تیر کړ څوچه په اخر کښې د (تبلیس) ښارته ولاړ اوهوری یې په خپل ادبـی فعـالیت لاس پورې کړ. د(کو کـاز) اخبار ته یې د (ماکسیم گورکی) په نامه یوه لنډه کیسه ورکړه چه دې کیسې دی خوراژرمشهور کړ.

دی په ۱۸۹۲ع کال بیرته د (ویژنیم) ښارته راغی اوپه نوی ادب کښې یه داسې میړانه ورداخل سوچه گواکې نوی دنیایې دنویوانسانانو یه غیږ کښې جوړه کړه.

— . . . . . —

ددغه وخت څخه ده خپل ځان ودنیا ته ښکاره کړ. کتابونه یې وکښل، ناولونه، کیسې اوداستانونه یې خوراډیرولیکل او مثبتې فـلسفې یې هم ډېرې یـکښې ځای کړې ده په خپلو ناولو کښې ټوله هغه دربدری ـ خواری ـ مرگونه او غریبی (چه پرده او یانورو خلکو باندې تیرې شوی وې) په داسې واقعی ډول سره ترسیم کړې چه گواکې دجهانی نوی ژوند په تامین کښې یې یوه عالـی برخه اخستی ده. ده دلینن سره اشنایی درلوده اودهغه ډېرې فلسفی نکتی یې په غوږ کښې نیولی وې. دسټالین هم خور اښه انډیوال واوډېر مجلسونه یې ورسره کړی دی.

دمارکس فلسفه‌یې چه ښه تحلیل کړه بیا یې نو پخپلو الفاظو، جملو، عباراتو او کیسو کښې په داسې شکل سره راوړله چه ټولو خلکو پر بورژوازیانو نیت بداو هغوی ئې په ځان پورې حیران کړل.

(ماکسیم ګورکی) نه یواځې په روسیه کښې نوی ادب دنوی ژوند دپاره پیدا کړ بلکه دده ادبیاتو اوناولو ددنیا ټوله زاړه ادبیات سره ولړزول او داسې اساس یې ورته کښیښودچه په خوراتژدې وختو کښې به زوړادب له رواج څخه وغورځوی.

دده ادبیاتودروسیې دپاره نوی ژوندجوړ کړچه البته دغه نوی ژوند د بشردنوی تاریخ شروع هم ده.

(لو نارشاسکی) دده دشخصیت دلوړوالی په باره کښې لیکی: «ګورکی لومړنی لیکوال دی چه دپرولتار یانو دپاره یی دنوي ژوند خبنته کښیښو دله دی چه دیوې خواپه آرټ اواد یاتو کښې دلوړې مرتبې خساوند دی دبلې خواد دمارکس انګلز اولینن په متبتو فلسفو کښې هم په خورا عالی ډول سره پوهېږی.»

هغه وخت چه ګورکی دیوې پخې فلسفې اوادبی مرحلې ته راوخوت نویې دیوې خواپر بورژوازیانو باندې سخت انتقادونه وکړل اودبلې خوایې دانسانی اوروښانه ژوند دپاره نوی اساسونه وړاندې کړل.

په عمومی ډول سره دګورکی ادبی مکتب ریالیزم (۱) دی او دغه مهم مکتب له مخې یې خپل ډېر ناولونه، کیسې، لنډې کیسې اوډرامې لیکلی دی:

موږ خوپه دې پوهېږوچه ریالیزم درې مرحلې لری؛ چه ابتدایی ریالیزم انتقادی ریالیزم (۲) اوانتهایی یاسوشل ریالیزم (۳) دی.

---

(1) Realism (2) Critic Realism (3) Social Realism

ګورکی په خپلو ادبیاتو کښې داټولې مرحلې په تکاملی شکل سره را وړې دی اما ډېرې لیکنې یې په انتقادی اوسوشل ریالیزم کښې ښکاری . که څه هم ځینې خلك دګورکی ریالیزم یواځې انتقادی ریالیزم بولی امادده د (مور) ناول داثابتوی چه دی په سوشل ریالیزم کښې ساری نه لری .

داخبره هم باید و کړو ګورکی علاوه پر ریالیستې لیکنو باندې ځینې داسې کیسې هم لیکلی دی چه دنیچرالیزم (٤) دمکتب متودونه یې پکښې استعمال اوپوره استفاده یې ځنې کړې ده چه د (خوږ ویارانو) (٥) کیسه یې ددې مکتب مکمله نمونه ده (٦) .

ګورکی دیوه پلوه په مثبتو فلسفو کښې پوره مطالعه در لوده او دبلې خوا د عمومی ادبیاتو په تحلیل کښې پوره ماهر و. دسوشل ریالیزم (علمی ریا لیـز م) په باره کښې وایې :

«دغه ریالیزم یوه داسی عالی اوواقعی لاره ده چه هیڅ نواقص نه لری دآینده ژونـد خـورا روښانه اوپاکې صحنې هم ښې پکښې ترسیم شوی دی .»

هغه وخت چه شوروی اتحاد خپل اقتصادی اواجتماعی نوی ګامونـه ا خستل نو ګورکی هم دځوانانو سره دنوی اومترقی ژوند په باره کښې کنفرانسو نه ورکول اوخبرې اترې به یې کولې هغوی ته یې دیوه ریالستیك سبك لار ښوونه کوله په دغه وخت کښې دی دادبیاتواهمیت او مـاهیت خورا ښه څرګند وی ، او وا یې :

«موږ تن ورځ دآرټ اوواقعیت (۷) ترمنځ واقع یواوادبیات د تاریـخ مـخه

Writers of The Western (6) Chums (5) Naturalism (4)
World (۱۰۹۲مخ) by Addison Hibbard' New York. (7)Reality

راګرځولای شی.» یعنی موږته ترابده پورې ایډیالسټیك ادبیات لازم نه‌دی.
خپل ادب اوهنر موباید دریالیزم په مرحله کښې ویوه داسې شکل ته ور سووچه
دانسانانو نوی تاریخ اوتازه ژوند پکښې تامین شی.

څنګه چه‌دی ادبیات دژوند په نوی والی اودتاریخ په اړولو کښې مؤثر بولی
نویې په دغه ډول سره دغه خبرې په خپل یوه خورانامتواومشهورناول(مور) کښې
په تطبیقی ډول سره ثابتې کړی دی.

دده‌دمور کتاب دخوراپخوااثاروڅخه ګڼل کېږی لکه‌لینن چه‌وایی «د مور کتاب
یوخورا عالی اوقیمتی کتاب دی»

ددې کتاب تأثیرات نه‌یواځې په‌خپله خاوره کښې ښکاره‌شول بلکه په باندنی
نړۍ کښې یې هم‌خپلې وړانګې وپاشلې.

یووخت دمورفلم دانګلستان په‌یوه سینما کښې ښکاره سوڅه وخت چه‌خلك
دسینما څخه راووتل نوټولو یودبله سره وویل‌چه که چیرې دروسیې دنوی ژوند
دپاره ادبیاتو مرسته کړی وی هغه به نودغه دمور ناول وی. دده تألیفات ډېردی
چه کوچنیواله، زما پوهنتونونه‌اوداسې نوریې‌هم‌له‌هغو څخه‌حسابیږی.

(ګورکی) دادبیاتوله‌پاره «خلك» اساسی نکته بولی اودده په‌عقیده بیله انسانی
جامعې څخه ادب کوم مفهوم نلری‌لکه‌چه‌وایی: دیوه‌ریالیسټ لیکوال او هنرمن
دپاره یوخورا لویه‌چینه اجتماع اوخلك‌دی چه ګواکې داچینه هیڅ نه تمامېږی
باید هنر مندان دخلکو هغه خپل واقعی وضعیت څنګه چه دی تر سیم کړی
دهغې اجتماع بدې نکتې تنقید اوښونکتوته یې دقدر په‌سترګه وګوری.

دمخه مووپلی دی چه‌دده عمومی اوآخری سبك سوشل ریا لیزم دی او په دې
باره کښې‌وایی چه‌سوشل ریالیزم دخلکو ریالیزم‌دی په‌دې ریا لیزم کښې‌به‌خلك

دخپل ځان دپاره یوه نوی دنیا جوړه کړی.دیوه کشمکشه څخه به کار یګره طبقه ویوې کامیابې ساحې ته راپورې باسی اودمثبت ذهن خاوندان به له ځانو څخه جوړ کړی (۱)

ده پخپلو لیکنو کښې دآزادی امنیت او ترقی بیا نونه کړی دی دعمومی جنګ دخرابیوڅخه یې بدراغلی اودامپریالیزم دنابود ولو:پاوه یې ډېرې خواری ایستلی دی هغه وخت چه ماکسیم ګورکی دامپریالیزم اوفاشیزم دتباهی دپاره وجهانیانو ته خبرورکړ نوددنیا ټولو ادیبانو،هنرمندانو اوعالمانو غوږونه په هوا ونیول چه داڅه پیښه اوداڅه نکل دی؟ نوهغه ووچه دنیاهم دګورکی په ادب کښې تعمق شروع کړ اوویې مانه ځینو جهانیانو دخپل ریالیزم په اساس د ګورکی ادبیاتو ته په درنه سترکه وکتل اودایې ومنله چه دده ادب نه یوازې در وسیې ادب دی بلکه ددنیا په پرولتار یایانو پورې ټینګه اړه لری ګورکی په عمومی ډول سره دخلکو څخه داپوښتنه کوی چه نن په کلی ډول دوې لارې پیدا دی یوه دامنیت ترقی ،ورورګلوی اوانډیوالی لارده چه دغه خصوصیتونه دنوی ژوند مولود دی اونوی ژوند له دغو خصوصیاتو څخه زیږبدلی دی اوبله لار دامپریالیزم ده چه لوړې اوژورې خوراپکښې ډېرې اومخ پر کښته هم روانه ده نو ووایاست چه کومه لارښه او کومه لار دانسانیت دتأمین دپاره آسانه ده.

لنډه داچه (ماکسیم ګورکی) دنوی ادب پلار او دانسانی نوی ژوند په تأمین کښې یې پوره برخه اخستی ده: ده پخپل ژوند کښې ډېرو ځوانانو ته لارښودنې کړی او دډېرولیکوالو سره یې نژدی اړیکی در لودې.

دلیوتو لستوی (۲) سره یې ډېرې خبرې اتری کړی اما دمتا فزیك په خبرو سره یې دخورالوړې درجې ادیب نه بولی لکه چه وایی:

---

(۱) Culture & Life,1961 ۲ Lev Tolestoi

« که چیرې تولستوی یوه سوچه ذهنی تصفیه درلودای ..... او یو نبچرالیست وای نو به بیله شکه څخه دیوه خورا روښانه او ځلا نده استدلال خاوند وای او دډیرو نوو خبرو پر کشف باندې به یې ښه قدرت پیدا کړی وای .» (۱)

ددې دپاره چه د(ګورکی) پوره ریالسټیك سبك راته معلوم شی نو د مثال په توګه دده د(کوچنیوالی) (Childhood) کتابه څخه یو کوچنی ساده عبارت رانقل کړو چه څنګه په ښکاره ډول دخپلې ټولنې سره ګډ شوی دی .

«په یوه خورا کوچنی تیاره کوټه کښې چه کړکی هم لری تر کړکی لاندې زما پلار چه سپین کالی بې اغوستی دی پرمځکه پروت دی.

دده دپښو ګوتې خورا سره پراخې اولاسونه یې پرسینه باندې ایښی دی.

په دنیا خبر نه دی اودوخته لاخوار کی مړسوی دی.

سترګې یې پټی او یوه خورا خطرناکه منظره یې جوړه کړې ده خوما چه به یې دالویو لویو غاښوته و کتل تراه به مې ځینې وشوه اوخورایې بیرولی یم .

مورمې چه سور کمیس بې اغوستې دی دده پراخواباندې یوڅه ورکزه سوې ده اوخپل پاسته ویښتان په یوه توره زمونځ سره زمونځوی داهغه زمونځ ده چه یوه ګړی ترمخه ما داري په حیث دهند واڼی پوستکی په ماتاوه (۲)

ددې خوله ښوری او په خورا کښته آواز ګډه ده په ډیره خوا بدی سره

---

(۱) Reminiscences of Lev Tolestoi by hisContemporaries. Moscow (مخ ۳۷۱)

(۲) - دګورکی ډیر بیانونه موږ ته نژدې دی سړی به ګمان وکړی چه ده خپلې ځینی کیسې دلته نوشته کړی دی دا لاندې خبرې واوری، چه مالیدلی اودده د زمونځی ترسیم په عین مفهوم پکښې پروت دی .

(ماپښین کزادی ....ګل جان داناکره ورغی - که ګوری چه انا یې سر مینځی

کله پر مخ ورسی او کله بیرته ځني را پر شا شی ستر ګي یې تمنې ولاړې دی او ډېرې ژړاخخه تکې سرې اوښتې دی ...

دګورکی په باره کښې مولز وډېرې خبرې وکړې چه دی نه یواځې دروسیې په نوی تاریخ کښې ستر شخصیت لری بلکه دانسانانو په نوی ادب کښې دلوړ مقام خاوند دی دده په ادبیاتو کښې که هر څو نه خلك ژورور ننوځی په هغه اندازه دی ښه پېژندلای شی اوورته ثابتیږی چه دی دنوی ادب پلار دی دهچه ډېر کتابونه ولیکل اودانسانیت دپاره یی لوی لوی خدمتونه وکړه نو په ۱۹۳۶ع کال کښې دسل په نارو غی مړ سو .

«بقیه پاورقی صفحه ۱۲»

او زده وینښتان یې په تش کښې غوړولی دی کله دصابون سپینې اوبه پروا چوی خوکله یوه توره دیخو اوبو ګډوه پرسر ورپورته کړی .

دی په دروازه ورننو تلی دی ځکه چه داپخپل کاراخته ده نوپه هیڅ نه ده خبره. دی کرار کرار ورر هی دی.

ددې وتش ته یوه ډیره کوچنی نجلی په بر بر سر ، خیر نولاسواو ککړه پزه ناسته ده کله په تش لاس غوټه کړی اوبیا یې وختی خو کله بیا وژاړی اوډوډی و غواړی .

دی چه ښه ورنژدی سونو یې نجلی ته زغ وکړچه متو خه کوې ؟ دلته راشه! متوخواره پخپله ژړا اخته ده هیڅ نه ورته وایی اما انا یې زغ واوریدی ، دستې په دستی یې پرسر باندې ژرژر او به واچولې او صابون مابون یې ځینې پاك کړ .

وبغل ته یې یوه ډیره خیر نه توره اودلرګی زمونځ پر ته وه وراوائې خیسته چابك چابك یې سر زمونځ اوکنډ وری یې په ووهلې . بیا یې نو هو لکی زمونځ پر میدان وغور ځو له او چه ختلی وینښتان یې سره کاو له کړه دیوه ډیر زاړه دیوال په چاك کښې یی کښېنو دل .

بیا را غله دده سره یې روغ برو کړ اویوه ډیر زړه نالیچکه چه وړی یې هم راوتلی وې ور ته هواره کړه .

دی دمخه ولاړ پر نالیچکه باندې کښېنستی دانا سره په خبرو اخته سو .

کوچنی نجلی هم دتش او به پریښوولې اورا ولاړه شوه ددوی مخ ته کښېنسته . کله په یوه شی اوبې کوی خو کله بیا وبل شی ته ګوتې وروړی یوار[یې دختکی یوه پوستکی ته چه میږ یان هم پر ټول سوی وو پام سونوهغه یې راواخستی اودانا هغه زړه زمونځ یې چه د سرو یښتا ن لاتراو سه پکښې بندوو راواخسته دپوستکی کله پر چپه خوابا ندی کش کړی خوکله یې بیا پرراسته خوا ورتیره کړی .....)

عبدالله بختانی

درحمان باباقومی افکار

په سبب دظالمانو حاکمانو

ګورو اوروپیښوردرې واړه یودی

څوك چه سترګې غړوی اوځان پیژنی هغه له ځانه سره مینه هم لری . دغه مینه چه په لږه لویه ساحه کښې ځای ومومی نودقام مینه شی او چه ساحه یې ډېره پراخه شی نو دانسان په مینه بدله شی .

دمینې ددایرې وسعت راز راز علل او عوامل لری چه دټولو ذکرمو نږ له خپل مطلب ته لیرې کوی .

دومره وایم چه دژوند راز راز جریاناتو په پښتنو کښې دقام او وطن مینه پخه کړې ده اوداددوی دعادا تواو عنعناتویوه برخه ګرځیدلې ده .

شاعر که هرڅومره لوی شی او دنظرافق یی انسانی نړی او یا تر هغه پور ته ما وراء الطبیعه، دژوند مبداء ملکوت او دعالم بالاءوی اویادومره کوچنی شی چه بې دخپل ځان او خیټې نه په بل څه یې نظر نه وی او دنظر ساحه یې دستونی او کولمو غوندې تنګه وی بیاهم دواړه ډلې شاعران لکه نورو خلکو غوندې په خلکو کښې اوسی . له هغو سره ژوند تېروی ـ له هغو څخه رنګ اخلی اوورته رنګ ورکوی .شاعر که هرڅومره لوی یاوړو کی شی بیاهم دخلکو

څخه څه اخلی او هغوته څه ور کوی. کیدی شی چه داشخاصو دفطری استعدادونو او کسبی معلوماتو په اثر ددغه اخستلولو ور کولو او کیف، رنګ او خوند فرق ولری. خو سره له فرقه له دغه را کړې ور کړې نه په مطلق صورت بې نیاز کیدلی نه شی. اوپه دغه بازار کښې ضرور لږه ډېره سودا، سودوزیان کوی.

دپښتنو شاعرانو په اشعارو کښې دقامولی او وطنولی روحیه په خو را وسیعه پیمانه لیدل کېږی چه دادو لس له قوی روحیې نه منبع نیسی اوپه اشعارو کښې انعکاس کوی.

دځینو شاعرانو اشعار کله دومره زیات قومی اوو طنی شی چه ځینې نقادان چه تصویرته ګوری او اصل ته پام نه کوی ورباندې انتقاد کوی او «هنری جنبه» یې کمزورې بولی. دغه قوت او ضعف دزمانې دتقاضا سره سم په او سنیو اشعارو کښې نسبتاً زیات دی چه دهغه څیړل ددې مقالې موضوع نه ده اومونږ په تېرو شاعرانو غږیږو.

په تېرو پښتنو شاعرانو کښې دخوشحال خټک شاعری دملی قومی او پښتنی شاعری سمبول دی او دی ددغه میدان لوی پهلوان او قهرمان دی. په همدغه وجه دپښتو ژبی داد بیاتو اکثر لوستونکی او څیړونکی داموضوع یوازې دده په اشعارو کښې لټوی زه دخوشحال خان دقومی افکارو څیړل بل وخت ته پرېږدم. او دهغو نورو شاعرانو په اثارو کښې چه نور خلك پکښې نورې خبرې لټوی. زه ددغه مطلب ټکی ګورم لټوم اووړاندې کوم یې. تر هر چا دمخه درحمان بابا دیوان او اشعارو ته دښاغلو لوستونکو توجه اړوم څوك وایی چه رحمان بابا یوصوفی شاعرو، څوك وایی یو عالم شاعروء. څوك وایی داشراق د فلسفی یو پیرو او مبلغ شاعرو. او څوك لاوایی چه دهغه مقام تر شاعر پورته دی. کیدی

شی چه دغو خبرو دپاره درحمان بابا په ژوندانه او آثارو کښې دلایل اوشواهد هم وی چه زه بې دتردید یاتائید پسې نه یم . بلکه وا یم چه که سړی ځیر شی نو په هر مقام کښې به رحمان باباورته دنوروټولو مزایا ووسره یودرو ند پښتون شاعر ښکاره شي او دهغه په اشعارو کښې به دننګ ، غیرت ، وطنو لی او پښتو خبرې پیدا کړی . زه په اوس هغه خبرې رابرسیرې کړم چه په دې لړ کښې زه ورباندی پوهیدلې یم کېدی شی چه دقیق څیړونکی به درحمان باباله اشعارو اوله دې خبرونه نورې خبرې هم پیدا کړی .

درحمان باباهنر :

رحمان بابا چه هرڅه ویلی دی - هغه یې په ډېرو ساده ، سلیسو روانو عباراتو دپښتو دعامو محاورو او اصطلاحاتو سره سم ویلی دی . د هغه په کلام کښې دخیال رنګینی او دعباراتو خوږ والی دسادګی په لباس کښې زښت ډېردی او ابهام او اغلاق یې ډېر لږ دی . په همدغه وجه په پښتنو یې اثر زیات دی او په هر کور کښې دهغه دیوان پیدا کېږی . دوعظ په منبرو نواودرندی بزمونو کښې ویل کېږی او خلك یې په دیوان فالونه ګوری . دسادګی ، روانی او رنګینی سره دپښتو ژبې درنګ ښه ساتل درحمان بابا هنر دی . ټول دیوان یې په مثال کښې وړاندې کیدلی شی او مثال ته ضرورت نه وینم . عام مقبولیت یې لوی دلیل دی . «آفتاب آمد دلیل آفتاب» .

دننګ خبرې :

رحمان بابا عاشق دی - عشق دژوند مبدا ء او د کایناتو پلار ګڼی .

داجهان دی خدا ی له عشقه پید ا کړی

د جمله ؤ مخلو قا تو پـلا ر د ی د ا

دعشق پەلار کښې مال اوسر قربانوی اوهرڅه هیڅ کړی .معمولاً لوی ایثاردادی چه سړی له هغه څه نه تیرشی چه هغه ور باندې ډیر ګران وی. «لن تنالوا البر حتی تنفقوا مما تحبون» په رحمان بابا ننګ او نام ډیر ګران دی ـ دژوند په صحنه او په انسانی د ارایيو کښې یې لویه دارایی ګڼی ځکه یې په مینه کښې قربانوی .

ننګ او نام کاستا په مینه له ماد رومی
ځارشه ستا ترمینې ننګ و نام ز ما

ترهغه چه دمعشوق نوم یې اوریدلی نه وی نو په ننګ او په نام یې نظر وی او تر هرڅه یې لوړ منی :

خو هم هو مره یې نظر په ننګ و نام وی
چا چه نه وی او ر یدلی نام دستا

دی ننګیالی دی او دګدایی ذلت نه منی ـ خو یوازې دخو بانو په باز ار کښې له دغه ننګه تیریږی:

ددیدن په ګدا یی کښې بې ننګ نه شې
د رو یز ګر یم د بتا نو په با ز ار ګډ

که څه هم دننګ او نام غم خوړل دعمر کار بولی ـ خو په عشق کښې یې قربا نوی:

عا شقی ا و ننګ و نام دی سره لیر ی
خو به عمر و ا ړه غم دنا م و ننګ خورم

+ + +

او س ز ما له ننګ و نا مه سر ه څه د ی
چه دې نوم دعا شقی ر ا با ند ې ز باد دی

خپل معشوق ننګیالی او دهغه په نظر ځان هم دننګ او نام خاوند ښیی:

ماپه‌تاپسې د اسپینې جامې رنګ کړې
ته‌لا بیا په ما ګمان د نام و ننګ کړې

ده‌ازاد طبیعت دپادشاهانو په‌معاشونو اوتنخواګانونه‌قانع کیږی او په عشق کښې د معشوقو نوکری کوی:

نوکری د معشوقو کوم په عشق کښې
مهینې نه د بهلول نه د اورنګ خورم

په‌پورتنیو اشعارو کښې درحمان‌بابا په‌نظر لومړی «دعشق مقام» اووریسې «دننګ ونام متاع» ده‌یوازې په‌هغه‌مقام کښې دغه‌متاع ځاوی اونوره دهر څه‌نه‌یې زیاته ګڼی. او دژوند په‌عامه صحنه کښې عزم-همت اواقدام دننګ‌دمعرکې دپاره‌شرط بولی:

زغره واغونده ملا وتړه په جنګ
هله پسه معرکه - کوه - د ننګ

اوبی‌ننګوته دننګ‌خبرې کول لوی‌عیب‌اومرګ ګڼی اوپه‌دغه‌صورت‌پربې ننګو انتقاد کوی اوهغوی دمخاطب کولو وړ نه‌بولی؛

وبی ننګوته د ننګ خبرې مه کړه
یا ځان وګڼه پخپلو وینو رنګ

ننګیالی توب په‌جسارت او انتهایی شجاعت کښې لټوی:

ننګیالی چه یو ځل مخ کا په یو لوری
بیاهیڅ نه وینی کوهی وی که ګړنګ

دپښتنو په‌عنعناتو کښې میړانه اونارینتوب اودننګ‌اونام‌ساتل د نارینه‌ؤ کاردی دی‌هغه‌نارینه‌چه‌په‌ننګیالی‌توب‌اودننګ‌او نام‌او ناموس په‌ساتلو کښې‌ترښځو کم‌وی

له ننگیا لیو ښځونه ځاروی اوداتري ښې بولی :

چه په ننگ وپه ناموس ترلوره کم وی
صد قه شه نا قا بله زو ی تـــر لـو ره
ننگیا لی تر برونه ښه دی ا و که نه وی
ننگیا لی ترله هم ښه ده له تـر بـور ه

« دتر برونو ننگیالی توب » خوښول هم دپښتنو یوه عنعنه ده . اوپه دغه شعر کښې د تربور ګلوی ناقصه حاسد انه مفکوره چه په عوامو کښې موجوده ده اصلاح کوی .

استغناء:

اکثر شاعران مستغنی وی ـ پښتانه هم استغناء لری ـ رحمان بابادپښتون شاعر په حیث خپل دخاورو کنډولی دزردارانودزروجام نه خوښوی :

زر داران که اوبه څښی په جام د ز ر و
زما خوښ داخپل دخاورو کنډولی دی

دیو مستغنی نداف فقیر نه دوه لوی اشراف باد شاهان ځاروی :

شا هجهان او اورنگ زیب غوندې اشراف
صد قه شه تر منصو ر غو نـدې نـدا ف

دخپل وروز « عزیز خان » سره کلی نه کـوی اوخپله «ملنگی» دهغه پـه « خـانی » نه بدلوی :

نه شی د خانا نـو د ملنگو سر ه کلـی
چیرته عزیز خان چیرته ملنگ عبد الرحمان

له ځان اوجهانه تیریدل داستغنا څرګنده نخښه بولی .

علامت د استغنا به یې څرګند وی
هغه څوك چه تیر تر ځان وتر جهان شه

پښتو ژبه:
ځان د پښتو ژبې د قلمرو عالمګیر (بادشاه) بولی او خوشحالان او دولتان غلامان ګڼی:

خوشحا لا او دولتا مې غلامان دی
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیریم

کېدی شی چه په دې بیت کښې د خوشحال خان په نسبت بوداسی خفی طنز هم موجود وی چه هغه د مغلو نوکری کړې ده او دی د خپلې ملی ژبې پادشاه پاتې شوی دی.

قومیت:
رحمان بابا وایی:

زه عاشق یم سرو کارمې دی له عشقه
نه خلیل نه داودزې یم نه مهمند

په دی بیت کښې ظاهراً د قومیت نفی کوی او ځان عاشق بولی ـ خو په ډیر مهارت په قومیت اقرار کوی خپل قوم او قبیله څرګندوی او ځان مهمند داودزی او خلیل ګڼی اما خپل کار او پیشه (عشق) تر دغو خبرو پورته بولی:

په بل ځای کښې وایی:

که یې شعر د رحمان مومند ترغوږ شی
غوږ به نه باسی په شعر د خوشحال څوك

دلته ځان مومند ښیی او په ډیر نزاکت د مومندو کورنی او د خټکو د کورنی ادبی رقابت ته هم اشاره کوی.

حملې ـ غورزنګ او ډیر غل د پښتنو د شجاعت نخښه ګڼی او په دې برخه کښې اپریدو او خټکو ته یې ښه نظر دی په عشقی پیرایه کښې دا مطلب داسی ادا کوی:

په حملو حملومی زړه وړی نه پوهیږم
اپریدی ده که خټکه الغیاث (نورابیا)

افغانی پیغلې په اجتماعی فعالیتو کې په ډېره خوشالۍ سره برخه اخلی په پورتنی عکس کې افغانی پیغلی دانگورو ټولولو په حال کې وینی*

ددولت محمدلودین خیرنه

ادراك Perception

دادراك مسأله دانسان په ځان پوری اړه لری له دې کبله ددغې مسألې حل دومره مشکل او ګران کار دی لکه څومره چه انسان ته دخپل ځان په باره پوهه ګرانه او غامضه ده دادراك په مسأله دلرغونې زمانې څخه ژور بحثونه پرله پسې شوی زیاتر و فیلسوفانو پکښې دافکارونیلی په پوره متانت ځغلولی او تراوسه پوری جریان لری مګر د زمانې په بدلون په هره نوی زمانه کښې وربانديې نوی نوی بحثونه شوی او دغامضیت نه یې څرګند او عالمی صورت نه دی اختیار کړی.

څرنګه چه په ادراك باندی پوهه هرچاته دضروری معلوماتو له جملې څخه ګڼل کیږی له همدې امله مناسبه وګڼله چه دقبل المیلاد له وختو څخه تر ډیرې وروسته زمانې پورې دځینو فیلسوفانو نظریات په لنډه او مختصر ډول ولیکم.

لومړی باید دلغت له مخې واضحه او څرګنده شی بیاد فیلسوفانو افکار منځ ته راشی په غیاث اللغات کښې دادراك معنی داسی ده:

ادراك یعنی په غیرو محسوسو شیانو پوهه میندل.

دادراك کلمه دافغان قاموس په لومړی ټوك کښې (پوهیدل او پوهه) معنې شوی ده دروانشناسی په لومړی ټوك کښې چه د میرمهدی جلالی تألیف دی دادراك مفهوم په لاندې ډول توضیح شوی:

«په اصطلاحی ډول دادراك لفظ دشخص هغه پوهه ده چه په خپلو بدنی حالاتو اومحیط یې دحواسو په واسطه حاصلوی یا په بل عبارت ادراك د هغې پوهې څخه عبارت دی چه شخص ته دشیانو اوواقعی امورو په باره دحواسوله لارې میسره شی دغه امور که په خارجی عالم کښی موقعیت ولری یا پخپله په موجود کښې وی په دواړو پوهه میندل ادراك ګڼل کیږی» داچه انسان څرنګه پوهه پیدا کوی ادراکات په څه وسیله ورته حاصلیږی افلاطون (۱) دا رنګه نظریه لری:

محسوسات حقایق نه دی اصیل او باقی نه دی عوارض دی تیر یدونکی او فنا کیدونکی دی اوپوهه د دوی په واسطه میسریدونکی نه ده بلکه د حدس او ګومان عوامل دی د هغه څه په واسطه چه علم اوپوهه په ګوتوراځی معقولات دی افلاطون وایی هرشی مادی وی او که معنوی داصل اوحقیقت لرونکی دی چه سرمشق او کامله نمونه یې ده دغه اصل اوحقیقت په حواسو درك کیدای نشی یوازې عقل کولای شی چه درك یې کړی دغه اصل اوحقیقت صورت یامثال ګڼل کیږی

نوموړی فیلسوف عقیده درلوده چه صورت یامثال دهرشی اصلی حقیقت دی او دهرشی حقیقت یودی مطلق دی تغییر نه کوونکی دی دزمان اومکان نه خالی دی هر هغه

(۱) افلاطون: ۴۲۷ کاله میلاد څخه دمخه په یونان کښی زیږیدلی عمر یی اتیا کالو ته رسیدلی دنجیبی اولوړې کورنۍ څخه وپه حکمت کښی یی لوی لاس درلودداتن دښاردباندې یی یوباغ درلودهغه یی علم اومعرفت ته وقف کړی و شاګردان به یی هلته ورتلل علم وحکمت به یی لحنی زده کاوه څرنګه چه دهغه لحای نوم اکادمی ودافلاطون فلسفه دا کادمی په حکمت مشهوره شوه شاګردانو ته به یی اکادمیان ویل کیدل اونن ورځ په اروپا کښی هرې علمی ټولنې ته اکادمی ویل کیږی

شی چه په حواسو درک کیږی ـ نسبی ـ متکثر ـ تغیر کوونکی په زمان اومکان پوري تړلی اوفانی دی دخپلو مثالونو یاصورتونو یوه جلوه او نمونه ده دخپل اصلیت او حقیقت سره دارنګه نسبت لری لکه سیوری، چه یې دخپل خاوند سره لری دانسان لپاره دشیانو یواځنی حقیقت مثل دی چه یواځی دعقل په قوه یې درك کولای شی له دې کبله افلاطون ظاهری عالم یعنی محسوس عالم هغه چه ټول یې درك کوی مجاز ګڼی حقیقت ورته دمعقولاتو عالم دی چه د مثل څخه عبارت دی افلاطون معتقد دی چه ظاهری عالم حقیقت نه لری مګر عدم او نشت یې هم نه ګڼی په شته والی اونشته والی دوا پو کښې یوې هم نه ګڼی. بلکه د کیدو په حالت کښې یې بولی.

دافلاطون دپورتنیو نظریاتو څخه معلومه شوه چه دانسان علم ومعرفت مرتبې لری هغه چه په حس اووهم حاصلیږی واقعی علم نه دی حدس اوګمان دی اوعوام لدهمدغې مرتبې څخه پورته نه ځی. یواځی هغه څوك حقایقو معرفت اومثل ته رسیږی چه په تفکر یې پیلو کړاودتعقل قوی ته یې ورزښت ورکړو.

دفکر ورزښت لکه څرنګه چه سقراط کولو(۱) په مجادله او بحث میسر یدونکی دی اوس باید پوه شو انسان له کومې لارې دمثل په وجود اومعرفت پوهیدای شی.

دافلاطون په عقیده انسان په مثل یاصورت فطرتاً پوه دی دغه علم اوپوهه دانسان په ذهن کښې دکمون په حالت پرته ده په دی ډول چه دانسان روح یخواله دې چه بدن کښې داخل شی اوپه مجازی دنیا کښې قدم کښیږدی دمجردانو اومعقولاتو په عالم کښې موجود وټول حقایق یې درك کړی دی هغه وخت چه دکون وفساد عالم ته ورسید هغه ټول زده کړی حقایق بې هیر شول مګر بیخی محوه اوله منځه تللی

(۱) Dialectique

نه‌دی همداسبب دی هغه‌وخت چه انسان دحقایقو ظواهر وو ینی په‌ډېره لږه‌پا ملرنه اصلی حقایقو ته رسیږی له‌دې کبله دعلم حاصلول په‌حقیقت کښې دهغو یوتذکر دی (١) دغه یونانی فیلسوف وایی لکه‌څنګه‌چه‌ذکرشول که همداسی نه‌وای انسانان به‌له اوله ناپوهه زیږیدلی وای دعلم اوپوهې ذخیره به‌پکښې له‌پخوانه نه وای بیانو انسان ته‌دعلم حاصلیدل میسرید ونکې نه‌و.

دپوهې دحصول په‌باره کښې دد کارت نظریات هم داوریدلو دی چه په‌لنډول لیکل کیږی.

د کارت (٢) وایی څرنګه‌چه‌ټول بشری مخلوق انسانان دی او دتعقل قوه لری په‌دې سبب داقوه هم لری چه‌علم حاصل او مجهولات ځانته معلوم کړی.

«١» Reminscence

«٢» رنه د کارت د فرانسی په یوه وړو کی ښار لاهه کښې په کال (١٥٩٦) زیږیدلی دی، پلاریی دمتوسطو قضاتو او نجبا و څخه ؤ د ده دقیقه او څیړونکی طبعه له‌وړ کتوب څخه معلومه‌وه چه‌پلاریې ورته فیلسوف ګی ویلو. دتحصیل دوره یې دلافلش Lafleche په‌مد رسه کښې په‌اتوکالو پای ته ورسوله خوموده یې حقوق اوطب ولوستل، شل کلنی ته‌چه ورسید دخپلی علمی تربیی نقص ته‌یې پام‌شو اوپه‌جهان ګرزیدنه یې پیل وکړوهالینډ ته ورغی، هلته‌دهالینډ په‌لښکرو کښې دیو پلټنی اوعسکر په حیث د اخل شو پس له هالینډه بیاالمان ته‌لاړ. هغه‌وخت‌چه په‌هالینډ کښې و، یوی وړې واقعې دده توجه بیرته‌علمی تفکر اتوته راواړوله، یعنی یوه‌ورځ یې په‌دیوال یواعلان زوړندولیدچه دیوې ریاضی مسألی دحل غوښتنه پکښې شوی‌وه په‌هغه‌وخت‌هالینډ په‌خاوره کښې دارواج و، چه‌علمی مسایل به‌یی طرح اواعلانول‌چه دذوق خاوندان‌وربانديې خپل فکر وازمایی دکارت پخپله‌په‌هالینډ‌ی‌ژ به‌نه‌پوهیده‌هغه‌څوک چه داعلان په‌لوستلو لګیاو. له‌هغه‌څخه یې وغوښتل چه‌ورته ترجمه یې کړی اوهغه‌ورته ترجمه‌وکړه. په‌پوښتنه چه‌پوه‌شو مسأله یې ډیره‌ښه حل کړه. اوهغه نفردده یردغه استعدادچه‌په‌ریاضی کښې یې درلود تعجب وکړو. اوحیران-پاتی‌شو. دکارت تر «١٦٥٠» ع پوری ژوندی و.

هغه چه دعلم په‌حصول نشی بریالیان کیدی البته دصحیح اوسم‌روش څخه کارته اخلی صحیحه لاره‌یې غوره کړی نه‌ده دارنګه خلکو کښې که کوم یوتصاد فاًعلم حاصل کړی‌هغه به‌هم‌بې ربطه اوبې‌بنیاده وی له‌دی‌معلومه شوه چه‌دعلم د حصول له‌پاره صحیح روش غوره کول حتمی اوضروری‌دی-دکارت پخپله دعلم‌حاصلولو صحیح روش میندلی وځکه دفیلسوفی درجی ته‌ورسید .

دکارت علم هغو معلوماتوته وایی چه بیخی مبرهن اویقینی وی اودهغوپه‌باب په ذهن کښی کوم شك او شبهه پاتی نه‌وی (۱)دعلم‌نمونه‌ریاضیات بولی‌اوپه دې عقیده دی چه‌دعلم دکشف له‌پاره بایدهماغه لاره غوره کړشی کومه چه‌ریاضیونو غوره کړی ده.دکارت عقیده‌لرله‌چه‌ټول علوم‌یوله بله‌اړیکه‌لری‌دکشف‌اوحصول لاره یې هم یوه ده‌بهتره اوګټوره‌لاره‌یې‌هما غه‌در یاضی روش دی یعنی که څوك غواړی‌دکومی قضیی صحت اوسموالی ثبوت کړی لومړی دې هما غه قضیه چه حل شوې لانه‌وی اودحل‌لاندې‌وی حل شوې فر ضوی نتیجه دې په نظر کښې نیسی قدم په قدم‌دې دنتیجی پرلور حر کت کوی اوورځ‌دی کیږی دې تر څوچه نتیجی ته‌ورسیږی یعنی جواب په‌لاس راوړی- که‌چیرې په لاس‌راو ړی جو اب هماغسی ولکه څرنګه چه مطلوب وی نوقضیه صحیح حل‌شوه دکا ر ت و ایی هیڅ شی حقیقت نه‌ګڼم مګرهغه‌وخت یې‌په‌حقیقت تصدیق کوم چه‌راته‌بدیهی‌وی او په خپلو تصدیقاتو کښی دډېرتلوار نه‌ده کوم تر هغه پور ې یې نه تصد یقوم تر څوچه هیڅ شك اوشبهه راته پاتې نشی .

پورتنی قاعده څونکتې‌لری لومړ بـاید پرهیچااعتمادو نه‌شی اوهیڅ‌خبره‌یې سند اوصحت ونه ګڼل شی با ید هرمطلب په خپل عقل وسنجول شی .

---

(۱) له دې کبله دکارت - تاریخ - سیاسیات اواجتما عیاتوته علم نه‌وایه او نه یی ورته کومه توجه‌کوله یوازې ریاضیات طبیعیات اوالهیات‌ئې علم ګڼلو .

دوهم هر انسان باید فکری ازادی ولری، فکری ازادی یوازې د هغو اشخاصو په مقابل کښې نه ده کوم چه آراء او احکام یې سند او حجت شوی وی، بلکه باید هر څوك د معرفت په حصول کښې د خپله ځانه هم وبره ولری یعنی مراقب او سی چه عقل یې د نفس تر تاثیر لاندې رانشی ځکه نفسانې خواهشونه زیاتره و ختونه د انسان عقل په منلو او ردولو کښې په غلطه لاره بیایی نه یې پرېږدی چه مطلب په صحیح ډول وسنجوی او د همدغه سرکش نفس د اجباری خواهشونو له کبله په اثبات او نفی کښې له تلوارنه کار اخلی او په غلطه لاره روانیږی د کارت و اقعی معلوم هغه ګڼی چه عقل ته څرګندوی د غه څرګندوالې ته د کارت یوه اصطلاح نوره کړی چه په وجدان یا کشف یا شهود (۱) ترجمه کیدی شی وایی عقل معلوم باید د وجدان په واسطه درك کړی، لکه څرنګه چه سترګې شیان و ینی عقل هم معلومات وجدانوی او په علم کښې د عقل وجدان معتبر ګڼل شوی حسی او وهمی ادراك ته اعتبار نه دی ور کړ شوی ځکه حس زیاتره وختونه خطاوې کوی مګر هغه چه عقل د شهود په واسطه ومیندل او ورته څرګند شول په یقینی ډول درست دی، ځکه وجدان یو فطری امر دی چه بې له استدلاله حقایق درك کوی.

که څه هم د د کارت په روش کښې ډېرې نیمګړتیا وې هم لیدل کیږی او انتقادونه ور باندې شوی دی مګر په دې کښې هم شك نشته چه د همدغه روش په واسطه د کارت د علم له پاره لوبه دروازه پرانستلې ده، او د هغه کسانو له پاره چه د علم حصول پسې هڅه کوی ښه لارښود نه ده خصوصاً د غه اصراریی د ډیر غور او توجه وړدی چه هر څوك باید پخپله ځان په حقیقت پوه کړی او په دغه اکتفا ونکړی چه د نور و خبرې زده او ضبطی کړی. او د هغو قالبی عباراتو په تکرار قانع شی چه ژبه یې وایی او زړه ته نه لویږی ځکه

دغه ترتیب اوروش کومه ګټه نه لری او که څوك همدغه روش او ترتیب اختیار کړی پخپله خپل عقل له کاره باسی . په دې ترتیب دهمدغو خلکو علم او پوهه به دهغو خلکو دشعر ویلو غوندې وی چه دشعر ویلو طبع نه لری- دعروض بیان او بدیع دقواعدوله مخې شعر ووایی. له دې کبله دکارت وایی- که څوك دریاضی ټولې قضایا اومسایل زده کړی اوپخپله په خپل فکر دمسایلو حل ته ملاو نه تړی- هیڅکله به دریاضی پوهاند نشی همدارنګه که چا دافلاطون اوارسطو ټول تحقیقات زده کړل که پخپله یې دحقایقو په تحقیق پسې سرونه ګرځو لونه به محقق وی اونه به پوهاند .

دادراك مسئله اوداچه انسان ته ادراك اوعلم له کومې لارې میسر ېږی او ترتیب یې څه ډول دی په دې برخه کښې لایبنیتس (۱) هم خپله فکری قوه په کار اچولی اوخپل نظریات یې څرګند کړی دی.

لایبنیتس انسانی ادراکات په څرګندو اوپټواد راکو ویشلی دی ځینو ته څرګند اوبعضوته پټ ادراکات وایی. دی پټ ادراك هغه بولی چه نفس ور څخه ناخبره وی. څرګند هغه ته وایی چه نفس ورباندې خبراو آګاه وی . په ترتیب لومړی ته پټ اوبالقوه - دوهم ته څرګند او بالفعل ادراکات وایی .

لایبنیتس هریو فردی جوهر دټول جهان نماینده بولی- وایی- هر څه چه په جهان کښې درك کیدونکی دی فردی جوهر هم دهغو لرونکی دی اوور ځنې

«۱» ګتفریدویلهلم لایبنیتس Gottfried Wilhelmlibnitz المانی داروپا دلو یو حکیمانو څخه دی. په ۱٦٤٦ ع میلادی دلایپسیك Leipziq په ښار کښې-زیږیدلی خپل رسمی تحصیلات یې په حقوقو اوفلسفه کښې کړی دی. دی شل کلن ؤ چه په حقوقو کښې دډاکتری درجی ته ورسید. په ۱۷۱٦ ع میلادی داویا کلو په عمر له دنیاولاړ ده هم دد کارت اواسپینوزا په شان تراخیره پورې واده ونکړ.

محروم نه دی ځکه د انسان په نفس کښې بټ ادراکات له څرګندونه بیخی زیات دی. هغه نفری چه په هغو کښې هر څومره چه څرګند ادراکات زیات وی په هماغه اندازه یې مرتبه لوړه ده او دغه څرګند ادراکات هم د یو ټو ادراکاتو د اجتماع نتیجه ده چه په مجموعی ډول یې څرګندوالی پیدا کړی دی.

لایبنیتس پټ او نامحسوس ادراکات داو بو د څاڅکو له شرهار سره تشبیه کړی- وایی داو بو هر یو څاڅکی بالقوه شرهار لری مګر یوازی دیو ه څاڅکی شرهار هیڅ نه اوریدل کیږی هغه وخت چه ډیر ې او به په جریان کښې وی شرهار بې په څرګند ډول اوریدل کیدای شی. لکه د سیند داو بو شرهار هر څوك چه ورسره نزدی وی ډیر ښه اوریدای شی- دغه آواز او بو د ډیرو څاڅکو د شرهارو مجموعه ده.

دې له پاره چه مسأله ښه واضحه او څرګنده شی بهتره ده چه د لایبنیتس ځینی نظریات بیان کړو. د ی وایی جسم او روح دوه حقیقتونه نه دی بلکه یو حقیقت دی او حقیقت هم ورته هغه وخت ویلی شو چه فعل او قوه Force ، تأثیر او کوښښ Effort ولری. هغه وخت چه قوه د حرکت په ډول عمل وکړی جسم دی او که قوه د علم او ادراك په ډول څرګنده شی روح ګڼل کیږی.

که څه هم لایبنیتس حقیقت یو ګڼی مګر د مو جوداتو له کثرت نه هم انکار نه کوی وایی یو حقیقت د کثرت په ډول څرګندشوی- یعنی حقیقت یو د ی- په اجزاؤ ویشل شوی دی چه ټول جهان د همدغو اجزاو څخه جوړشوی دی- د دغو اجزاؤ هر جزء معقول ده او د حقیقت لرونکی ده- هر یوه قوه لری او د اثارو منشاء ده- ابعاد نه لری مګر ژوندی او د ساه خاوندانې دی.

دغوا جزاووته لا يبنيتس جوهر يا بسيط وجود يا فردى جوهروايى اوپه يونانى ورته (موناد) ويل كېږى چه د (واحد) معنى لرى . (۱)

ددې له پاره چه زمونږ اصلى مطلب اوموضوع په ښه ډول تشريح شى دجوهر په باره خبرې كول بې ځايه نه دى . ځكه نو موږ فيلسوف وايى فردى جوهرونه بې شماره دى اوهغه قوه چه هرجوهر دهغې خاوند دى دوې جنبې لرى : لومړى - فعل وتاء ثير . دوهم - دخارجى فعل په مقابل كښې دمقاومت جنبه .

دغه فردى جوهرونه په ځانګړى صورت اوتنهايى بعد نه لرى مګر د بعد لرلو اقتضاء لرى .

يعنى په مجموعى ډول بعد بيدا كوى او دانسان په ذهن كښې ورځخه د بعد تصور كېږى .

فردى جوهرونه سره له دې چه بې شماره دى د فعل اوتأثير له مخى يو حقيقت ګڼل كېږى مګر هيڅ ممكنه نه ده چه دوه جوهرونه په تمامه معنى له هره حيثه يو دبل په شان وى . اوهيڅ تفاوت دې ونه لرى - تفاوت يې په ځينو كښې حس كيدى نه شى مګر په بعضو كښې ښكاره او څرګند وى .

لاينبيتس هرفردى جوهرته په روح قايل دى اووايى چه هرفردى جوهر دادراك خاوند دى .

يعنى په دې ډول چه هرفردى جوهر پخپله ديوواړه جهان په شان دى - هر هغه څه چه په ټول جهان كښې موجوديت لرى - همدغه خواص په هر جوهر كښې ميندل كيدى شى . يايه بل عبارت هرفردى جوهر دداسې هندارې غوندې دى

(۱) فردى جوهرته د اختصار په غرض جوهر يا فرد هم ويل كېږى .

چه ټول جهان پکښې منعکس وي . هرڅه چه په ټول جهان کښې موجودیت لري ـ هر فردي جوهر د همدغو شیانو څخه څه نا څه بالقوه او ځینې بالفعل لري .

څرنګه چه ټول طبیعي موجودات دفردي جوهرو داجتماع ظاهري نمونې دي چه په حقیقت کښې جوهرونه او اعراض ګڼل کېږي ـ دجوهرونو په دغو ظاهري نمونو کښې هم ادراك مختلف دي په ځینو کښې ډېر ضعیف او په بعضو کښې قوي دي .

هغه فردي جوهرونه چه جمادات ورڅخه تشکیل شوي لکه تیږه او نور ادراك یې ډېر ضعیف دي .. داسې معلومېږي لکه چه هیڅ ادراك نه لري . دوښو ادراك له دوي نه زیات دي دحیواناتو ادراك له وښو څخه زیات او د انسانانو ادراك له ټولو نه زیات دي .

لکه څرنګه چه پاس وویل شول ـ لایبنیتس ـ دشي ـ حیوان او انسان جسمیت دفردي جوهرونو داجتماع نتیجه ولي ـ همدارنګه عقیده لري ـ هرجوهر په حقیقت کښې دیو جهان حیثیت لري . هرڅه چه په جهان کښې موجودیت لري دي هم له هغه څخه بې برخي نه دي کوم خاصیت چه په جهان کښې موجود وي جوهر هم دهماغه خاصیت لرونکي دي هرڅه چه په جهان کښې درك شوي وي یا درك کیدونکي وي دي یې هم ددرك قدرت لري مګر د هرجوهر مدرکات په دوو ډولو دي یو ډول یې ښکاره دي او بل ډول یې پټ دي هغه جوهر چه دهغو ښکاره ادراکات زیات وي امتیاز لري . همدا سبب دي چه انسان په جماداتو نباتاتو او څارویو فوقیت او امتیاز لري .

دلته ددې پوښتنې ځواب ضروري دي چه پټ ادراکونه په ښکاره ادراکو څرنګه وړي؟ لایبنیتس ددې پوښتنې په ځواب کښې وایي هرهغه څه چه دجوهرو

په مجا ورت کښې ډېروی هماغه خاصیت اووضیعیت هرڅه چه وی په دوی کښې له پټ نه په څرګندا و ښکاره بد لیږی .

ادراکات دامعنی نه لری چه د کمال حد دی بلکه د کمال په لور په حرکت کښې دی په یوه حال پاتی کیدونکی نه دی له یوه ادراك نه بل ته اوله بل نه بل ته رسیږی او خپل حالت ته تغیر ور کوی مګر هر موجوده حالت دمخکښې حالت نتیجه ده او دراتلونکی حالت تخم هم لری . (۱)

دغه مسأله چه انسان په څه ډول اوڅر نګه علم پیدا کوی او په ګومه وسیله ورته حاصلیږی . څومره حقیقت لری اود واقع سره تر کومه حده مطابقت لری دډېرو غامضو مسألو څخه ده جان لاك (۲) هم په دې باره کښې خپل فکری قوت په کار اچولی دی .

دلاك په عقیده دانسان ذهنی تصورات اومعلومات فطری نه دی ځکه که فطری وای تل به په ذهن کښې حاضروای که داهم قبوله کړو چه معلومات فطری دی مګر انسان پرهغو خبر نه دی دایوه بې معنی خبره ده او تناقض لری .

همدار نګه که معلومات فطری وای دهغو تحصیل ته کوم حاجت نه پاتې کیده

---

(۱) دلا یبنیتس نظریی د(سیرحکمت د اروپا) څخه داختصار په ډول واخستلی شوې .

(۲) جان لاك John Locke لوی انګلیسی حکیم دی په ۱۶۳۲ کښې زیږیدلی او ددوه اویا کلنی په عمر (۱۷۰٤) کښې له دنیا تلی دی . پس له هغه چه عمومی تحصیلات یې بشپړ کړل څرنګه چه دامکولا ستیك فلسفه یی خوښه نه وه طب ته یې ملا وتړله اوپه دې تاخ کښې د ځینولو یانو سره هم په تماس کښې و چه په هغه یې واسطه د مملکت په ځینو کارو کښې یی هم معلومات پیدا کړل دانګلستان نه دباندې ملکوته هم تللی خصوصاً په هالینډ او پاریس کښې یو څو موده اوسیدلی هم دی . په اخلاقی - تربیتی - اقتصادی - مذهبی اوسیاسی مسألو کښې یې څورسالی لیکلی دی مګر دلاك مهم کتاب دهغه دفلسفې کتاب دی چه (دانسان په فهم اوعقل کښې تحقیق) په نوم یادیږی .

هرچابه لرلای مګر داښکاره خبره ده ترڅو چه چا تحصیل نه وی کړی دمعلو ماتو خاوند کیدای نشی ځکه موږ پوهېږو وا ړه ،وحشیان ،اوعامیان ډېر هغه معلومات چه پوه خلك یی لری دوی ځنې بې برخی دی له دې معلومه شوه چه دانسان معلومات کسبی دی او د تجربی نتیجه ده لیکن ځینی خلك بعضی معلو مات په وړ کتوب کښې زده کوی او داسی معلو مېږی چه دغه معلومات دژ و ندا نه له شروع څخه ده درلودل مګر حقیقت داسی دی چه دژوندانه له شروع څخه دمعلوماتو په موندلو پیل کوی په تدریج دخپلو معلوماتو پانګه زیاتوی .په همدې ترتیب لاك دمعانیو او تصوراتو له فطری والی نه انکار کوی د معانیو او تصوراتو یا په بل عبارت دپوهنې او علم په باره کښې خپل عقاید او نظریات داسې ښکاره کوی.

په لومړیو وختو او ابتدایی مرحله کښې دا نسا ن ذهن دیو ې سپینی تختې غوندی وی چه هیڅ شی ور باندی لیکل شوی نه وی .مګر ورو ورو تجر به لږ لږ معلومات ور باندې نقشوی لاك وایی ؛تجر به په دوو ډولو ده یو احساسا تی چه خار جی شیانو پوری اړه لری او بله دننی مشاهده ده چه دتفکر او تعقل په واسطه انسان ته په ګوتو ور ځی هغه معلومات چه په ذهن کښې پیداشی تعقل هغه رو زی او ودنه ور کوی.

لاك وایی ـ هیڅ داسې معلو مات او تصورات نشته چه له دغو دوو مبا دیو یعنی حس او فکر څخه په یوه منتهی نشی.

فکر او تعقل هغه وخت په فعالیت لاس پورې کوی کله چه محسوسات ذهن ته وارد شی. د لا ك دغه عبارت ډېر معرو ف دی. «بی له هغه شی چه په حس مو ندل شوی په عقل کښې نور هیڅ نشته» او دلایبنیتس دغه جواب هم ډېر مشهور دی « هو بې له هغه شی چه په حس مو ندل شوی وی په عقل کښې نور هیڅ نشته مګر بی له عقل څخه ».

که څه هم دلا یبنیتس دغه جواب معقول دی مګر پخپله لاك هم دعقل نه انکار نه دی کړی دغه مساءله چه مفهومات په عقل کښې څر نګه پیدا کېږی هم دڅېړلو وړ ده او لاك په دې

پاره کښې هم خپل نظریات ښکاره کړی دی وایی۔ عقل څو قوې لری چه د غوقوو په واسطه مفهومات په عقل کښې پیدا کیږی لکه:

(۱) ادراك چه علم لومړنی مرحله ده. (۲) حفظ ـ چه معلومات په ذهن کښې ساتی ـ بیا یې په خپل وخت او موقع کښې یاد ته راولی. (۳) تمیز چه معنی یوه له بلې بیلوی او مشخصوی یې. (٤) سنجش ـ کوم نسبت چه معلوماتو په منځ کښې وی هغه پیدا کوی. (٥) ترکیب ـ چه بسیطې معانی سره جمع کوی او مرکبې ځنې جوړوی (٦) تجرید یا انتزاع ـ یوه جزء بې معنی چه د یوه فرد د مشاهدې له مخی معلومه شوی وی د خپلو ورسره مقارنا تو څخه بیلوی او کلی مفهوم ورڅخه جوړوی.

لاکوایی: د دغو وروستیو شپږو قوو څخه پنځه لومړنی قوې د انسان او حیوان په منځ کښې شریکې دی او شپږمه قوه خاص د انسان ده.

د دې لومړنی قوې انفعالی (۷) دی او په د روورو ستیو قوو کښې نفس (۸) فعالیت لری او د همدغو د روقوو په واسطه د بسیطو تصوراتو څخه مرکب تصورات جوړیږی

خلاصه لاك د فطری معلوماتو څخه انکار کوی ـ وایی انسان د حس په واسطه تأثیرات ذهن ته وارد وی او د عقل په واسطه پر هغه کښې فعالیت کوی تر څو چه یوې معنې او مفهوم ته ورسیږی.

دغه موضوع چه انسان ته پوهه له کومې لارې حاصلیږی، او په څه ډول انسان

---

(۱) Perceptión (۲) Retenation (۳) Mémoire

(٤) Comparaison (٥) Compostition (٦) Abstraction

(۷) چه د خارجی مجبوریتو په سبب فعالیت کوی.

(۸) یعنی بې د خارجی مجبوریت نه په فعالت اخته وی.

دپوهې په ګاڼه ګڼل کېږی ایمانو یل کانت (۱) المانی فیلسو ف هم پکښې خپل نظریات ښکاره کړی دی. دده په عقیده دانسان پوهه دوه رکنه لری حس (۲) او فهم (۳). نوموړی حکیم پردې عقیده دی چه دانسان دعلم شروع دحس په واسطه ده همدغه حس دشیانو صورتونه په ذهن کښې نقشوی. هغه وخت چه دشیانو صورتونه په ذهن کښې دحس په واسطه نقش شول بیا عقلی قوه په کار اچول کیږی همدغه صورتونه سره سنجوی وصل او فصل کوی یې. عمل پکښې کوی او دهمدغی لارې انسان ته په شیانو پوهه او معرفت پیدا کیږی

سره له دې چه دانسان دپوهې لومړنی مرحله تجربه ده چه دحس په واسطه پیدا کېږی مګر دانسان پوهه یوازې دحس په واسطه نه ده ـ ځکه هغه تأثیرات چه دحس په ذریعه ذهن ته واردیږی. ذهن ورباندې دخپله ځانه هم څه علاوه کوی چه په دې وسیله انسان ته پوهه او معرفت حاصلیږی.

که ذهن له خپله ځانه څه ونه لری چه وارده تأثیرات او محسوسات دهغه په واسطه وروزی ـ یوازې محسوسات دپوهې مرتبې ته نه رسیږی او انسان ته معرفت نه حاصلیږی. کانت هغه معلومات چه یوازې له ذهن څخه پیدا کېږی. ذهنی معلومات بولی څرنګه چه دغه معلومات دنفسی او عقلی قوې دفعالیت په واسطه حاصلیږی ـ له دې کبله یې عقلی معلومات هم بولی او قبلی هم ګڼل کیږی ځکه دحس او تجربې نه دمخه په ذهن کښې پراته وی کوم معلومات چه دحس او تجربې په واسطه موندل کیږی تجربې یې بولی. همدغه تجربوی معلوماتو ته بعدی هم وایی ـ ځکه پس دحس او تجربې څخه حاصلیږی دغه حکیم دپوهې حاصلولو په باره کښې خپل روش دنورو فیلسو فانو په خلاف غوره کړی دی.

---

(۱) ایما نویل کانت Immanuel Kant په ۱۷۲٤ دالمان کنکسبرګ په ښار کښې زیږیدلی او تر اتیا کلنی عمره پورې ژوندی و دغه اتیا کاله ټول عمر یې په پوهیدلو، پوهولو، تألیف تصنیف تیر کړی، (۲) Sensibilite (۳) Entendement

ځکه دی پخپله وایی: ددغې مسألې په تحقیق کښې ماخپل روش د نورو فیلسو فانو په خلاف غوره کړو. یعنی هغه روش چه نوره فیلسوفانو اختیار کړی وهغه تهمې بیخې تغییرور کړو. لکه څرنګه چه کوپرنیك دعالمی هیئت په باره کښې رویه اختیار کړې وه. په همدغه ډول ماهم خپل عملیات جاری وساتل.

کوپرنیك وایدل که داسې فرض کړو چه موږ دجهان مرکز یو اوستوری له مونږ چار چاپیره چورلی په دې صورت دمشکلاتو سره مخامخ کیږو ددې له پاره چه دمشکلاتو څخه خلاص شو فرضیه یې سر چپه کړه. ویې ویل - لمر مرکز دی او مونږ له لمره ګرد چاپیره چورلو په نتیجه کښې ورته معلوم شول چه مشکلات په اسانی حل ته ورسیدل ماهم ولیدل تر اوسه پورې مونږ عقیده درلوده چه شیان اصل دی اوزمونږ ذهن خپل ادراك دهغوی دحقیقت تابع کوی یعنی پرهغوی یې منطبقوی.

مګر ددغې لارې په غوره کولو کښې له مشکلاتو سره مخامخ یوله دې کبله فرضیه مې سر چپه کړه فرض مې کړل زمونږ ذهن ټول شیان په خپل ادراك منطبقوی او په دې هیڅ کار نه لرم چه زمونږ ذهن دې شیان هغه ډول درك کړی لکه څرنګه چه دی ځکه مونږ شیان په هغه ډول پیژنو کوم چه زمونږ ذهن ادراك یې تقاضا لری - له دې کبله ادراك دشیانو وحقیقت ته نه تابع کووا او نه خپل ادراك پرهغوی منطبقوو پس له دې همدغه روش په برکت مشکلات حل شول

دادراك په باره دځو فیلسوفانو نظریې په لنډ ډول ولیکل شوې ګران لوستونکی به یې پس له لوستلو په خپله فکری تله وتلی چه کومه منی او کومه نه.

په دغه مقاله کښې دلاندې نیومنابعو څخه پوره استفاده شوی ده:

(۱) - غیاث اللغات. (۲) - دا فغان قاموس لومړی ټوك.
(۳) - روانشناسی لومړی قسمت د میر مهدی جلالی تألیف.
(٤) - د (سیر حکمت دراوروپا) لومړی او دوهم ټوك.

واسعی

د پښتو ادبي او شعري قاموس

«۳»

د کابل مجلې په (۹) ګڼه کښې مونږ د پښتو ادبي او شعري قاموس مواد وښوول او دا موږ ګنده کړه چه د دې قاموس مواد باید څه نوعه لغات وي او په اخر کښې مو د الغات پر څلور وانواعو وویشل او دهرې نوعې چوکاټ مو د تعریف په ذریعه وټاکه په دې ګڼه کښې غواړو د کابل مجلې د لوستونکو سره دهرې نوعې په باب کښې ځانته مرکه او صحبت وکوو داسې چه د هغو انواعو څخه چه موږ په تیره ګڼه کښې یاد کړی و دهرې نوعې څخه یو څه لغات په ترتیب راوړو او د لغوي ترجمې او ادبي پلو دواړو د نقطه نظره څخه خبرې پرو کو په دې ترتیب چه لومړی د اولې نوعې لغات تر بحث لاندې ونیسو او وروسته به بیا د دوهمې نوعې ورپسې به د دریمې او څلورمې نوعې لغات وڅیړل سي نو په دغه ترتیب باید وار دواره د لومړۍ نوعې لغات معرفي کړو او پر هر یوه جلا جلا وږ غیږو:

لومړۍ نوعه لغات موږ هغه بللی وه چه نه په محاوره کښې مستعمل وي او نه په موجوده قاموسونو کښې ضبط سوي وي او یوازې په اشعارو او دواوینو کښې راعلی وي د دې نوعې لغاتو شمیر خورا ډیر دی او یقیني احصائیه به یې هغه وخت معلومیږي چه د پښتو ادب زاړه دیوانونه او د متقدمینو او متوسطینو اثار ټوله تر نظر تیر او وکتل سي خو دا کار اوس یو څه ګران غوندی معلومیږي ولې تر اوسه زمونږ په علمي او ثقافتي مؤسساتو کښې یوه داسې کتابخانه موږ نلرو چه

دپښتوژبې زاړه منظوم اومنثور آثاردې ټوله پکښې راغونډوی نو که څوك دشعري اوادبي قاموس جوړولوته هڅه لري هغه بهمجبوراً پهموجوده آثار و چه دا کړی یې لاس ورر سیږی بسیا کوی اووروسته بهپهوروسته کښې پسې اټکلوی هرڅه آثار چهپهلاس ورځی لغات به ځنی رااخلي اودقاموس په لمن کښې به یې وراچوی اوس نوموږ داصحبت پردغه ځای پریږدو اوخپلې اصلی خبرې ته ځوچه هغه دلومړی نوعې دلغاتومعرفی اوپرهریوه جلابحثا وڅیړنه ده نوځکه وا یوچه په دې سلسله کښې موږ ترهغې اندازې چه دلاسه مووسی دلغاتودتردیف مراعات کوو اوپه همدغه لحاظ ترټولودمخه د(آر) کلمه راوړو .

دا کلمه (آر) چه دقلم میدان اودتحریراو ادبی څیړنې ډګر ته رالوېدلی ده تا ریخچه یې لنډه اوعمریی دپټې خزانې دنشر دورځی څخه راشروع کېږی په دې ډول چه دپټې خزانې په (۱۳۱) مخ کښې دیوې قصیدې پهدې بیت کښې

شیخ متی چه خلیلی ؤ

دی دآر لوی ولی ؤ

راغلی ده دا کلمه په دغه معنی چه په دغه بیت کښې ځینې اخیسته کېږی چه هغهد اصل اساس اوبنیاد معنی ده بل ځای نهده راغلې او دوهم مثال اومورد یې په پښتو متونو کښې چ ته نه دی معلوم اونه چاتصریح په کړیده دپټې خزانې فوټ نوټ هم فقط داقدروایی: « دا کلمه په پښتو کښې داساس او بنیاد په معنی ده » داسې معلو مېږی چهدغه کلمه غیرددغې قصیدې څخه بل چیرې نه ده لید لې سوی اونهدچاد خولې څخه ترغوږ سو یده.

مګرخبره خوداده چه د(آر) کلمه ترپټه خزانهاودپټې خزانې ترمؤلف لا هم ډېره مشره اویوه ژوندی اوپه محاوره کښې مروجه کلمه ده. خوصرف دغونه خبره پېښه ده

چه دپټې خزانې او محاوره معنی ګانې یې سره جلادی او په بېلو بېلو مفاهیمو کښې مستعمله سوې ده مثلاً دپټې خزانې په قصیده کښې داساس او بنیاد معنی ورسره لګیږی مګر په محاوره او دخلکو په خولو او خبرو کښې جلا مفهوم افاده کوی او خلق وایی: «زه تاپه آرنه راوړم» یا «پلانی زما په آرنه راځی» یا «هغه څوك په آرنه راوړی» په دې ټولو مثالو کښې د (آر) معنی او مراد د بیت د معنی څخه نه داچه جلا ده بلکه بیخی لیرې او په مشرق ومغرب کښې سره واقع دی هلته آرد اساس او بنیاد معنی ور کوی او دلته په خبرو او محاوره کښې داهمیت او په دوهمه مرحله کښې فی الجمله د موجودیت او شیئیت ترجمه ور سره لګیږی ملاً څوك چه وایی: «زما څوك په آرنه راځی ـ یا ـ زه څوك په آرنه راوړم» مقصد یې داهمیت نه ور کول یا پرشی نه بلل او د هغه په موجودیت نه قایلیدل وی. وروستی معنی هغه وخت ښه واضحه کېدای سی چه سړی پورته عبارتونه ددې جملې په عوض کښې ویلی شوی وبولی چه ګواکې دی وایی «پرماد چاوجود او عدم فرق نه لری».

دلته باید دې عجیب تصادف یا یوه تصاف ته نه بلکه دوو درو تصادفو ته اشاره وسی هغه تصادفو نه چه پخپله نوعه کښې ډېر عجیب وغریب دی او د ادب او کلتور په نړۍ کښې بیخی خوند ور معلومیږی: ـ

لومړی تصادف داچه د آر کلمه دپښتو په دې دو نه ارت ادب او شعری نړۍ کښې تش یوه شاعر او په یوه بیت کښې، په داسې معنی راوړی ده چه د (نوع منحصر بفرد) حکم لری یعنی غیرله دغه یوه شاعره څخه بل چانه په شعر نه په نظم او نه په نثر کښې په دغه معنی یا غیرله دغې معنی څخه په بل تعبیر افاده کړې ده، او په دغه معنی فقط و فقط دغه یو مثال لری او بس ـ آیا ښاغلی لوستونکی به دا یو عجیب او د خوند و عرابته څخه ډك تصادف نه و بولی چه په یوه

نغښتی ژبه کښې داوله څخه تراخره اودابتداڅخه ترا نتهاپورې دیوی ژبې لغت په یوه معنی صرف په یوه مورد اویوه ځای کښې مستعمل شوی وی. اودوهم مورداو مثال یې په ژبه کښې په همدغه معنی نه چا لیدلی وی اونه یې څوك مو ند لای شی دا تصادف. زما په خیال ډیر نادر او بیخی لږ پیدا کېږی.

دوهم تصادف دا چه دا کلمه د آرین) په ماده او دهغه په نورو مشتقاتو کښې هم شامله او دځینو لیکو نکو اوڅیړ ونکوله خواڅیړلې شوی او خبرې پر شوی دی. نو دلته هم سړی ته تعجب اوحیرت دریږی چه دپښتو معاصر ولیکونکو یادوطن لومړی مورخ ښاغلی کهزاد چه دا کلمه د آرین په ضمن کښې دنجیب ـ اصیل ـ شریف په معنی یاده کړی ده استناد به یې څه شی ته کړی وی اوپه څه شی پورې به یې لاس نیولی وی؟ که هلته هم دپښتو شاعر دغه یو بیت متمسك وی نو سړی ته د فارسی هغه مشهور مثال ور په زړه کیږی چه وا یی:

«یك سنگ چقمق و کل ثمر خیل» او دغه شاعر ته یې بې اختیاره دعا پر خوله راسی چه ده ته دې خدای خیرور کی چه دا کلمه بی پخپل شعر کښې راوړه که ده نه وای راوړی او بیاد پټې خزانې مؤلف نه وای را نقل کړې اوس به موږ څه کولای اودادب اوتاریخ دیوه مهم اسناد څخه به محروم او په یوه حساس وقت کښې به مو دیوه قوی او علمی تمسك څخه لاس خالی وای.

دریم تصادف اوترلومړیو دوو ډیر جالب تصادف دادی چه د(آر) کلمه په محاوره کښې ژوندی اودهری خولې څخه ارویدونکی ده خوسره له دې هم په هغه معنی چه پټه خزانه یی راوړی او په هغه معنی چه په محاوره کښې افاده کېږی په قوامیسو او مخصوصاً بیا په هغو قوامیسو کښې چه دپښتو ټولنې له خوا نشر شوی دی نه ده ضبط سوې او هیڅ ئې نه ده راوړی. فقط ډاکټر بلیو انګلیس دا کلمه دبنسټ اواساس په معنی قید کړی ده.

ها! یوه بله همرا په زړه سوه هغه داده چه په پټه خزانه کښې (آر) بی (ه) راغلی او بلیو (آره) په (ه) سره قید کړې دی نو که د پټی خزانې تلفظ بی (ه) وی باید سړی د بیت په ترجمه کښې هم تلولی (متردد) سې چه ایا (آر) بې (ه) د (آر) په معنې را تلای شی او یو لغوی جواز په دې باب کښې موجود دی؟ حال دا چه هر و مرو به هلته (آر) د (آره) په معنی اخیستل کېږی او بله لار نسته نو به څه کوو او د دی لغوی مشکل چاره به څنګه کوو؟

چاره داده چه د پټی خزانې رسم الخط کټ مټ د خطی نسخې څخه بې تغیره را اخیست سوې دی او هغه رسم الخط د (ه) پر ځای چه ذ فتحی د پاره راځی پخپله فتحه (زور) ور کوی نو اوس سړی ویلای سی چه د پټی خزانې بی (ه) (آر) په اصل کښې لرونکی (آره) ده چه د اساس او بنسټ په معنی مستعمل دی نو وروسته تر دې توضیحاتو موږ ته د اواضحه کیدای سې چه آر بی له (ه) باید د اصل او اساس په معنی و نه بلل سی بلکه د (ه) سره په دغه معنی راځی بل دا چه تر اوسه پورې د پښتو ټولنی په طبع سوو قوامیسو کښې د الغت نه د (ه) سره او نه بی له (ه) په یوه شکل هم نه دی قید شوی.

سړی: د الغت د سړی مذکر په مقابل کښې مؤنث راغلی دی لکه په عربی کښې چه د انسان په مقابل کښې مؤنث انسانه وویل سی. (۱)

---

(۱)- په عربی کښې لغوی پوهان او د علم اللسان او فقه اللغه علماء مختلفی رأیې لری څوک وایی انسان اسم جنس دی پر مذکر او مؤنث یو شانته صادقیږی او څوک دې ته تللی دی چه انسان تأنیثی شکل هم لری او مؤنث یې د عربی ژبې د عمومی قانون سره سم په (ت) سره انسانه راځی. د دې رأیې مرسته مجد الدین بن یعقوب شیرازی د عربی د مشهور لغوی فرهنګ (قاموس المحیط) مؤلف کړی ده پر دې عربی فرهنګ لکه پخپله چه دی مهم دی دغسې یوه مهمه شرحه د شیخ تاج الدین احمد بن محمد اسکندرانی د خواد (تاج العروس) په نامه سوې ده. د قاموس څښتن په دې باب کښې د عربی ادب په دې رباعی استشهاد کوی:

انسانة فتانة بدر الدجی منها الخجل اذا زنت عینی بها فبالدموع تغتسل

ترجمه: دا (معشوقه) یوه داسې ازمیښتی «فتانه» انسانه ده چه د څورلسم سپوږمۍ ورته خجله ده هغه وخت چه زما ستدګې د دې سره زنا وکړی نو په اوښکو لمبیږی «لیکونکی»

دا لغت (سړی) خوشحال خان په لاندنیو بیتو کښې راوړی دی:

ته په دا حسن وجمان چه درته ګورم نه پو هیږم ښاپیری یې که سړی
یا : لکه پر یه وه سړ یه په مخ مهو شه عنبر څړ یه
هار یې په غا ړه دسرو ګلو نو بخت کړه له ما سر ه غاړه غړ یه

خو شحال خان په دې باب کښې د پښتو ژبې د عمومی روحه څخه مخا لغت کړ ی او دا یی ښه بللی ده چه د سړی په مقابل کښې مؤنث هم په ژبه کښې موجود وی دا بیا جلا د بحث وړ ده چه د ده د دې ښه بللو او د دې لارې غوره کو لو با عث او عامل به څـه شی وی

زما په خیال هغه به داوی چه خان په هره خوا کښې یو غیور او د پښتنی ننک څخه ډك سړی دی ده نه غوښتل یو مزیت چه په یوه ژبه کښې مو جو دوی هغه دې دده په مورنی ژبه او دده د شعر او ادب او دده د فضیلت او شهرت په ژبه پښتو کښې نه لید ل کېږی - نو په داسې حال کښې چه د یوې خوا خان د مطالعې او کتا بخا نې څښتن له بلې خوا څخه عربی ژبه او عربی اثار دا سلا می او پښتنی ثقا فت منبع او دلر غو نو پښتنو فضلاوو د ویاړ او افتخار دا سبا بو څخه بلل کیده نو ځکه ده دا ژبنی علمی مزیت خپلې ژبې ته راوستل په ډېره مینه او تلوسه غوښت. او در یمه لا د شعری قافیی ضرورت او مخصو صاً د ښاپیری په مقا بل کښې سړ ی را وړ ل دا دبی نزا کت او اقتدار یوه نخښه هم باید وبلل شی. دا درې سر ه وجوهات سره یو ځای د دې عامل سوه چه خوشحال خان د سړی په مقابل کښې مؤنث (سړی) پښتو ژبې ته راوستلی دی او یو توی ګرامری دروازه ئې خلاصه کړې ده . دا چه دروازه د ژبې د ګر امر په ګټه ده که په زیان بله خبره او جلا بحث او څېړ نه غواړی خو دا هم باید وویل شی چه د دې تأنیث موجد په پښتو ادب کښې یوازې خان بلل کېږی او تر اوسه د بل کم پښتانه ادیب او شاعر په کلام کښې دا نوعه مؤنث نه ی لیدل شوی .

پیاندی : دالغت دخوشحال خان د کلیات په دې بیت کښې راغلی دی :

ته ګوره په چیرته زه خوشحال په کوم ملکونه

پاس په زړه پرتې دی ستاد تور اور بل پیاندی

پخپله په کلیات کښې ددې لغت ترجمه نه ده شوې خو پښتو قاموس (۱) په «کلولهٔ زلف» ترجمه کړیده مګر د معنی د بیت سره پوره اړخ نه لګوی او خو ندنه ورسره کوی ځکه چه دا کلمه په محاوره کښې په یوه شکل نه ده راغلی بلکه دوه نور شکلونه هم لری باید لږ غوندې مفصل پروږغېږونو ځکه وایو :

په محاوره کښې دالغت د پاندرۍ او پاندره په بڼه هم لیدل کېږی لومړۍ لهجه د کندهار او دوهمه د کابل د فارسی ژبو افغانانو څخه ماارویدلې ده . د کندهار پښتانه پاندۍ هغو وریښمینو مزوته وائی چه دواده د سراود لو پر موقع دناوی په اودلو و. پښتانو (کوڅیو) کښې اودل کېږی.

ددې لغت د ساختمانی مادې او بڼې څخه ماته بریښی چه دا کلمه دار یائی هندی ژبو د بقایا ووڅخه په پښتو کښې پاته، ورته راغلې ده او دمو جو ده هندی اواردو (پندره) څخه د پنځلس په معنی ده په دې ترتیب اخستل شوې ده :

پخوانی اریائی اقوام مخصوصاً هغه ډله چه د هند حوزې او جلګو ته یې هجرت وکی د طبیعت پرستۍ په سلسله کښې د لمر عظمت ته قایل و و او په بعضو اوقاتو کښې یې د معبود درجه هم ورکړې وه لکه په اوسنی هند کښې چه ئې په بعضی

(۱)- که څه هم د مقالې په اول کښې موږ د لومړۍ نوعی لغات هغه بللی ووچه په مطبوعه قاموسو کښې نه وی قید شوی مګر دالغت که څه هم زموږ د لغاتو شمیر کښې نه راځی او باید موږ بحث نه وای پر کړی مګر لکه موږ چه د مخه ویلی دی دالغت دوی او درې بڼې لری او پښتو قاموس یی په ټولو بڼو نه دی ضبط کړی نو فی الملجه موږ ته مجوز په لاس راغی .

اقوامو کښې تر اوسه لاشايد نخښې ياته وي دلمر دمزاياوو څخه چه سپوږمۍ هم په هغه کښې ورسره شريکه ده يو مزيت ښکلا او ښايست دی دلمرو سپوږمۍ د امزيت يوازی ديوه قوم يا يوه ټبر له خوانه دی منل شوی بلکه ټوله بشريت او نغښتی نړۍ دښايست نمونه او مثل اعلی دغه دوه بلی دښه مرغه پښتانه په دې عقيده کښې تر نورو بشری اقوامو دمخه شوی دی او دلمرؤ سپوږمۍ ښايست يې ضرب المثل کړی دی او ديوې ښځې دفوق العاده ښايست څخه په تعبير او حکايت کښې دوی وايی :

«مخ ئې لمر شائې سپوږمۍ ده» بلکه د تفائل يا د خپلی لور دښايست دپر و پا ګنډ دپه ره مورو پلار پر هغې سپوږمۍ نوم ايږدی يا يې دفاميلی لقب په توګه ور کی .

هندی اريائې اقوامو لمر دښکلا رب النوعه هم باله نويی په دغه مناسبت له لمره څخه پيدا شوی علايم هم ښکلی ګڼل او دهغو قدريې هم کاوه دقدر او مننی په دغه سلسله کښې دوی دسرې و زرغونې (قوس قزح) (٧) اساسی نګونه او (٦) هغه سيوری چه د اساسی رنګونو د اتصاله څخه نسبتاً خفيف په نظر سړی ته ور ځی او يو هم پخپله اسمانی او جوی رنګ چه دا ټوله (١٤) رنګونه کيږی او پر دې څورلسو علاوه يې دلمر دوړانګو څخه په زرين مزی (ګلا بتون) تعبير کاوه د اپنځلس رنګونه مجموعاً دلمر او دلمر څخه د پيدا سوو علايمو دقدرت او عظمت او سربيره پر هغه د ښکلا او زينت نخښی بللې کيدې ښځه مخصوصاً بيا وديدو نکی ښځه هغه بيا هم دواده په شپه دا ريايی ټبر دژوند محصول او دفاميلی حيات انتهائی آرزو او هيله وه نو په داسی موقع کښی بايد دا په هغو مزاياو وممتازه وی چه هغه د حسن او ښايست درب النوع او ريښتينی ښکلا څخه اشتقاق او اقتباس شوی وی حقيقی ښکلا خو طبعاً په لمر يا له ده څخه په نشئت کړی مظاهرو کښې پر ته وی لکه سره وزرغونه د دوی دوو دښکلا څخه د (١٥) رنګه مزو په بڼه تفائل وسو او هره اريايی پيغله به ميړه ته

دواده پهشپه ددغومزو سره یادسر پهو ریښتانو کښی داو دلو اویابهد غاړه گی په ډول ترغاړه را گرز ولی ورتله دی (١٥) رنگونو تهطبعاًدوی پهژبه باید (پندره) ویل شوی وی ـ پښتانه چهدا ریائی کورنیو یو مهم اواصیل فامیل دی اودار یایی کلتور اوعنعنی دساتنی اوخوندی کولو سره ډ پرهمینه لری نوئی داعنعنه پههغه زاړه نامه اوز ړه طریقه تر اوسه پوري ساتلی د ه اوس هم درښتینې پښتانه ناوی دپاندریو سرهمیړته ورځی اودا آریایی درد هغسی چه (٢٥٠٠) کاله پخوا دامو پرسو احلو او دهند پهاریائی شنو جلگو کښې معمول و اوس هم پههغه شوق اوذوق عملی کیږی اویوه نغگیالی اوباناموسه پښتنه اوخواخوږی مور خپله پې مخی لور دهیړه کورته دواده پهشپه بی پاندریونه لیږی اودپښتنوالی یوه خوندوره عنعنه ئې بولی.

موږ دمخه وویل چهدا کلمه پهفارسی ژبو افغانانو کښې د (پاندره) پهشکل هم موجوده اود فامیلی عنعناتو پهضمن کښی تررسم اور واج لاندی ده پهدې ترتیب چهد کابل پهښاری حوزه کښی هغه کور ونه چهخپل ملی شئونات یې ساتلی وی اودعنعنوی ژوند نخښې یی پر مخ نهوی با یللی د کال پهمخصوصو روځو کښې یوه نوعهخیر اتونه دنذراومالیدې پهنامه کوی اوهغه وخت چهما لیدهپه لوښی کښې لکه کاشین یابل کوم دغسی پراخ ظرف کښې مثلا مسی لگن کښې واچوی او دمجلس پهمیا نځ کښې ددعا ا ومراد اخیستلو دپاره پروت وی پردغه موقع ددغه لوښی چاپیر هم دغه رنگه اوز رین مزی یوشمیر دپا نداری پهنامه را گرزیدلی او تړل شوی وی چه کټمټ هغهدوداورسم یعنې د آریائی عنعنی تقلیددی چهدلته بیاپهدې ډول ځان معلومیوی دپښتنوپه عقیدهدناوی پهوریښتانو کښی ددې خورنگوتارو نواو کلا بتو نوور اودل ښائی دامعنی ولری چهناوې دلمر اوسپوزمی دذات او بو ده ځخه ده یعنې دښه پلاراوښې مور لورده داسی چهپلاریی پهمړانه او شهرت کښی

دلمر غوندې مشهور اودلوړ مقام څښتن دی‌اوموربی په‌عفت اوعصمت او دلمنې په سپین والی کښې دسپوږمۍ سره مشابهت لری‌اود خلکو د لاس او تماس څخه دونه پورته اولیرې واقع ده لکه سپوږمۍ چه‌پرنیم آسمان‌ولاړه ده‌اوهغه یی‌خپل اصلی ځای دی‌دهیڅ چالاس نه‌وررسېږی یائې معنی‌داده چه‌ناوې دلمر اوسپوږمۍ غوندې دښکاو اوښایسته موروپلار اولادده پلاریې دلمرغوندې ځلاند اومور یې دسپوږمۍ‌شانته ښکلی ده نوداپخپله دپښتنود دمشهورمتل سره سمه دونه‌حسینه ده چه «مخ ئی لمرشائی سپوږمۍ ده» «نوربیا»

شهون

د پښتو معاصر شعر ته یوه کتنه

- ۳ -

د اجمل خټک د اشعارو څو نمونې

جنت

د یو ملا نه مې تپوس و کړ لو
ماوې ملاصاحب جنت به څه وی ؟
هغه په ګېډه لاس وا هه و یل ئې
تا زه میوې او د هود و ر و د و نه

خوا کښې کتاب ته یو طالب ناست و
ماوې چه ته به پکښې څه ووا ئې ؟
د زلیخا کتاب ئې بند غوندې کړو
وې چه «ښایسته حورې اوشنه خالو نه»

شیخ د تسبو ا میل په لاس و لاړ و
په خپله ږیره کښې ئې لاس و هلو
د ه پرې را و دانګل نه دا سې نه ده
ښکلی غلما ن ا و جنتی سر و نـــه

یو خان په لویه سجده پروت پاڅید و
ما وې چه خان کا کا ستاڅه رأیه ده؟
خپله شمله یې سموه ویل یې
د سر و او سپینو عنبر ی کو ر و نه

خوا کښې یو ستړی سیلید و ولاړ و
ماوې مز د و ره ته جنت پیژ نې ؟
د خپل تندی خوله ئې و چه کړ له
وې چه «مړه ګېډه خوا ږه خوبونه»

یو لیو نی غو ندې په لا ر تېر ېد و
ما وې چه اې فلسفی ! ته څه وایې ؟
خپل ببر سر یې ګر ا و ه و یل یې
«بس د انسان د خوشحا لو خو بونه»

مادې خپل زړه ته سرور کښته کړلو
د ه په او ترو سترګو بـر ه کتـل
د ی شین اسمان ته غورېد و ویل ئې
ما او ر ېد ل ترې دایو څو لفظو نه

و یل ئې « اې د لا مکان خا وند ه !
په خپل مکان کښې خپل اختیار جنت دی
ګڼی د د غه لیو نتو ب په نا مه
که ناروی نار که داروی دار جنت دی»

یو تپوس

څه وکړم ځان راته انسان ښکارېږی
دا نسا نا نو نه پو ښتنه کـــوم
اول د خو لې ما تید وامن غـــوا ړم
بیا د غټا نو نه پو ښتنـــه کـــوم

زما جونګړې کښې چه ډیوه بله شی
ستاسو په زړونو دا تیاره ولې شی ؟
چه زه د بارد لا ندې سا ه ا خلمه
د ستا سووچولی تر او ه و لې شی ؟

که زه د بدې ورځې هم خا ند مه
تاسو په خپله کښې غمجن ولې شیء ؟
چه زه د و لو ږې نه ا پلاتې و لم
تا سوپه ما باندې شکمن ولـې شی ؟

چه مو نږه اوږی سره ناست ووینیء
مړ و په تا سو زلز له و لې شـــی ؟
چه زمونږ خولو کښې ژبې وګرزېږی
ستا سو انګړ کښې غلبله ولې شی ؟

او ل د خو لې ما تید وامن غو ا ړم
بیا د غټا نو نه پو ښتنه کـــوم
څه وکړم ځان راته انسان ښکارېږی
دا نسا نا نو نه پو ښتنـــه کـــوم

فریاد

دلو یو لو یو قدر تونو ر بـه
یوه تمـناده اوریـدی شـې که نـه؟
ستاد سکڼی سکڼی ماښام نه لوګی
دچادزړه لوګی لیدی شې که نه

ستا د سپلیو طو فا نو نـو پـه مـخ
یواسو یلی دی در لیږ ل یې غو اړم
ستاد چپو چپو سیندو نو پـه نـو م
لیمه راډك شو څڅو ل یې غو ا ړم

هسې نه چڼ دخولې و پستل کفر شی
هسې نه تا تم ژړ ېد ل کفر شی

ستا د جنت د نعمتو نو نه ځار
زه در ته وږی په جهان ژ ا ړ م
ستا د دو زخ له لړما نو تو به
زه د رته دا « لړمانان » ژاړم

دلته دګېډې دوزخ تش ګرزوو
هلته شوستا ددوز خونو خشا ك
دلته ددغه قصـابانـوخـو راك
هلته دهغه ښامارانو خـوراك

نه موځان تور کړو او نه سپین پاتې شوو
نه د د نیا شو نه د د ین پا تې شوو

زه هم ځلمی یم

زه هم شاعریم دچاد نګې سپینې غاړې سره
د لو نګین په تال خپل فکر ز نګولی شمه
زه هم فنکاریم د چاتورو خمازو سترګو کښې
دپیغلتوب شراب بې جام و کاسو څښلی شمه

❀ ❀ ❀

زه هم دتورو ګورو زلفو عنبری سو رو کښې
د نوی حسن په باغچه ځان ور و لې شمه
زه هم دګرمو پستوشونو وانګوری پیالو کښې
ځان ته د عشق آب حیات تیارو لی شمه

❀ ❀ ❀

زه هم ځلمی یم لیونی زړه مې مستی غواړی
پهمرمرینولیچو خوب د چاسکنې غواړی

❀ ❀ ❀

زه هم د غوښې زړه لرم سینه کښې کاڼی نه دی
رانه ښایست غواړی مستی غواړی خند ل غواړی
د زلفو څو کو سره لوبې غواړی مینه غواړی
ملال باڼه، خونړی ستر ګې مړه کتل غواړی

❀ ❀ ❀

چه د مکیز خند ا د پیغلو ا ننګو و ینی
زما زړه هم ورته بی صبره پسخیدل شروع کړی
چه د ښولاندې کا ز ه د خیا ل کا ته و و ینی
زما کوګل کښې هم څه پټ پټ تخنیدل شروع کړی

زما زړه هم د مینې ډك دی مینتوب غواړی
ژوندون په خواکښې د بې کچه پیغلتوب غواړی

خو ولې اشناد اهر څه خیال وګنه خوب وګنه
خدایز و که دې ته یو لحظه وزګاریدلی شمه
داخو مستی دی خوشحالی دی اوخندا هوس دی
والله که زه خوهغه ساه هم ا خستلی شمه

زمادخیال په ځلمی توب ګونی لګیادی خوری ئې
قسم که زه خود نیمګړی ژوندپه خوند پوه شومه
د حیات و ینه مې څر بې څر بې ژوری وخښی
قران که زه خوددې زیست روزګار په بتدپوه شومه

❀ ❀ ❀

حسن به څه کړم چه زړګی په خو ارو خو ارلرم
سینه به څه و کړم چه ژوند په او زو بار لرم

چه مې دمو رد سر پو ړ نی لا تا ر تا ر پر و ت وی
ز ه به د مستو لو پټو خو بو نه څه و و ینـــم
چه مې د خو ر سر لا سر تو ر وی د ظا لم د لا سه
ز ه به د تو ر و پلو کو خو بو نه څه و و ینـــم

❀ ❀ ❀

چه را نه چا رچا پیره ټول ماحول سلګی سلګی وی
و ا یه د سرو شو نډ وخند ابا ندې به څه پوه شمه
چه خپل کر لی فصل ټول را ته از غی از غی کړی
د بل د ګلو په مسکا با ندې به څه پوه شمه

چه می نیاز بین بچی دلوږ ی مری زه ګورم ورته
ملګر و څنګه به د مینې خر مستی و کړ مه
چه ز ما کتهه بل څتی اوما د لو ږ ې و ژ نی
داسې قصا ب نظام کښې څنګه خو شحالی و ګرمه

❀ ❀ ❀

چه سړ یتو ب پکښې تللی شی د زرو په تو ل
ملګرو طمع تر ې د لو ړ ا نسا نیت و کړ مه
چه پکښې حسن و محبت هم په لیلا م خر څیږ ی
سړ وهغې باز ار کښې عشق و کړم ا لفت و کړمه

❀ ❀ ❀

تا سو خوعشق وایې د ژو نده هم بیزار ناست یم
هر څه چه کیږ ی یو ې چغی ته تیا ر نا ست یم

د غنی د ا شعا ر و څو نمو نې:

دلندن معشو قې

دلته یو خواته ازغی دی — بل خو ا څا نګې د نرګس
د هنر علم سا یه کښې — ګر ځی ګل لبا نه مس (١)
هره نوی نوی چا ل کړ ی — خوهمه زړه کښې داخیال کړی
چه له ګلو بو را و ا ړ ئی — په از غوئې کړی زړه غس (٢)
ډیر ئې ورك کړل ډیر به ورك کړی — ډیر بې سپك کړه ډیر به سپك کړی
د ډ نبر لشې د ی پټې — د ې لکو کښې د تا ؤ س
غنی ځان (ملا با د ر) کړه — عقید ه د ې بر ا بر کړ ه

بلا ګا نو کښې دیره ئې
چر نه مات نه کړې اودس

(١) Miss — (٢)- غس - غوڅ

با با ته (۱)

ستا خطونه ټول زما سر ته پرا ته دی — زه ئې لو لم هره شپه دو بار دو بار ه
کله خا ند م کله ژ ا ړم لیو نی یم — اې زما په بند کښې پروت غر یبه پلا ره
نه! ته نه ئې غر یب ته ډ یر لوی او چت ئې — مصیبت د ی ستا عز ت ته عز ت د اره
خدای به رحم و په تا باند ی لږ کړی — بل ښه زوی به ئې و ، کتلی ستا دپاره
چه په تا کښې کوم جو هر دی ما کښې نشته — ستا نیکی ز ما بد ی دواړه بی شماره
ته سا لار ئې د کار وان په نیغه لار ځې — زه کو ږ ځغلم لکه او ښه بی مها ره
ستا د زړ ه فو ا رې ډ کې دی د مینې — ز ما ز ړه وچ کوهی نه لری یو داره
وهم منډ ې تا پسې خو ته هم لر ې — و ینم ستا ا یله ا یله د پښو غبا ر ه

پر و ا نشته که په منډ و منډ و مړ شم
فقط ستا او د خپل قا م د نو م د پا ر ه

اې ز ما و طنه

ای زماوطنه ! دلالو نوخز انې ز ما
ستاهر ه دره کښې دی د تورو نښا نې زما

❀ ❀ ❀

زه یم ستادخاوری ته زمادمینی جوړ ئې
ته می دغیرت اودپښتور نګېنی جوړیې
ته می د نیکه او د بابادوینې جو ړیې
ستازړه کښې ویدې دی ټولی تللی زمانی زما

ای ز ماو طنه ! د لا لو نو خز ا نې ز مـا

(۱)- دا یو منظوم خط دی چه غنی باچاخان ته دلندن نه دهغوی دیوشکایت آمیز مکتوب په ځواب کښې لیکلی دی - با چاخان دغه وخت په جیل کښې و.

ستر ګی می لو ګی شه ستا د خاو رو د کو رو نو نـه
عقل می ایر ې شه ستا د پا ر ه د فکر و نو نـــه
ځا ر شمه قر با ن شم ستا د غرونو نه سیند ونو نـــه
ستا هر ه د ر ه کښې د دی تو ر و نښا نی ز مـــا
ای ز ما وطنه ! د لا لو نو خز ا نې ز مـا

ستا عز ت چه نه وی زه به نو م او عز ت څه کړمه
ته چه خوار او زار یې ز ه به خوب ا و راحت څه کړمه
ستا سر چه وی ټیټ نو به زه شا ن او شو کت څه کړمه
مسته به د ی خا و ر ه کړم په و ینی مستا نی زما
ای ز ما و طنه! د لا لو نو خز انې زمـا

یا خو به د ی سیا ل کړمه و طنه د جهان
یا به ستا په پښو کښې تور ې خا و ر ی کړ م دا ځان
ز ه به د ړ ی و ړ ې شم خو تا به کړ م و د ا ن
نر یمه پښتو ن یم تا ته یا د ی ا فسا نې ز مـا
ای ز ما و طنه ! د لا لو نو خز ا نې زما

گو نډ ه

کو نډ ه نا سته په ژړ اسر ټکوی چه زامن ئې په ګو او شو ه شهیدان
کورئی ګو شود تیاری ،ډیوی سړې شوی ګوره ګاتو کړل فنا ښایسته ځو انان
د ذری ذری بچې سر ته ده نا سته په و یر و نو لړ ز وی مځکه اسمـان
ای ز ما د کو نډ ی ماله لو یه خد ا یه
ای منصفه ا ی ر ما د ا نصا ف ځایه

رحم و کړه په سپین سر تا ته ژړیږم دا زما و روستی ګلاب را ته مه بیا یه
دا یوه څانګه زما د تالا باغ ده دا لالی زما مه بیا یه له دی ځایه
نور دی ورك کړل په ګولو د ګوره ګانو دا زما و روستی چی پریږده ای خدایه
دا زما د سوی زړه یو قلاری دی
که ئې اخلی نور حمان ځان ته مه وایه
دا زما د کیږی ملا یوه همساده که ئې بیا ئې ما تم لار د ګو رو ښایه
الله رحم په سپین سرد بوډی و کړ مرګی راغی خلاص یی کړو ر له ګریان
د بچی په سینه ساه ور کړه عاجزی بوی تری لاړ تش ګل شو پاتی په میدان
په اسمان کښی فرشتی په ژړا سر شوی
په سجده پر یو اته ټول پیغمبر ان

ښاری

ستړی مشې ! ستړی مشې ! خانه خیره سره ر اغلې
دوړ دو پیسې (۱) دی کلچی لا تی دو پیسې دی چای
سه ګرمی کښې چائی نسکې خان نور په ښار کښې سه دی
یخ شربت ناجوړ به کی نیبوان تا کښې ښه نه دی
ستا قسم دی خان ډوډی زمونږ سره به نوش کړی
(نا) و نه وې خان مو ږدغم نه به یې هوش کوی
راشه لاره وښیم تا لـه زوم (۲) زه انتظـام کـوم
خدایږونـن دښار کر یلا ټول په تا تمام کـوم

(۱)- په هند کو خپل مزدور ته وائ منډه کړه د دو پیسو کلچې او د دو پیسو چای خان له راوړه
(۲)- زوم- ځم

ګوره هغه کوټ باندی دی پروت دسیټ دکان
هغه سیټ دکان پسې دی بل دسیټ دکان
هغه سیټ دکان پسې یووړو کی شان مسیت دی (۱)
خوا کښې یو پیپل دی یو نالی لیږ شان پلیت دی
اخوا دوه کوڅی دی یوراځی او یو ورځی
هلته ناست دی کوټ باندی دکان یو د درزی
شاته زموږ کور دی مونږ ورځو په بله لارې
اسی اوقی بیټهی ء او سان وینی د کنارې

لاره که غلط شې ګوره دغه خی د کان دی
د لته ښه تیکه جوړ یږی الله مهربا دنی

یاحکیم جی

ته څه خبر ئی دد ې مزی نه
پیا له کښې شو نډې دیار پرتی دی
دا سې خوږې دی دا سې پستې دی
ډ کې دسر او خمار پرتې دی
تا څه لید لی صو فی بی مینې
ستر ګې مد هو شه سینې مهینې
ته څه خبر یې دا څه غضب دی
خورې پرې زلفې تار تار پرتې دی

(۱)- مسیت- مسجد.

په لمن د هندوکش کې بیا د کار مو ز یك غږ یږی

ماته معلوم دی کل مسئلی ستا
دسو دا وزیان اوږې قصی ستا
ګوره چشمانو کښې دجانان می
دجنت حوری قطار پر تی دی

دخد ای دپا ره سا قی ګلر نګه
ډ کې پیا لې را په شر نګاشر نګه
او څښم به، څښم به،چه لیو نی شم
تا ور انه لیچې دیا ر پر تې د ی
ګو ره اسمان کښې سپوږمی رو ښانه
ما ته وې وا خله خوله له جانا نه
دوه ورځې ژوند دی لیو نی خا نه
د مستی ور ځې د شمار پر تې دی

د سلیما ن لا ئق دا شعار و نمو نې :

دسا لنګ ترانه

په لمن دهند و کش کښې
بیاد کا رموز یك ږغیږ ی
دما شین تر دوړ ولا ند ې
د هیواد انسان خو ځیږی

❀ ❀ ❀

د لته فکر د بقا د ی
ژو ند ی شونی په سالنګ کښې

مالید ای معجرې دی
د کا رګرو په کلنګ کښې

❀ ❀ ❀

غرونه غرونه به هوار شی
کا ر به و کری ګلونه
سیل به مارشی سین به واوړی
طبیعت به شی په ملونه

❀ ❀ ❀

علم او کار سره یوشوی
ما توی داسختې پر ښې
دسا لنګ دز ړه نه با سی
دانسا ن د فکر کر ښې

❀ ❀ ❀

ر سو امینه

سپوږ می دلوړو غروله شانه راخته را خته
سپنه رڼاپه لویو دښتو خور یده خوریده
وږ مې د ګلوله عطرونو سره
شپې د شپنو له آوا زو نو سر ه
نشې د میوله جامو نو سره
زما لا سو کښې ځنځیر ونه دګناه اچول
توبه وه ما ته.

❀ ☆ ☆

زه دنشي له پیچوتا به اوښتم اوښتم
داد مچکو له ګرمیو تاویده تا ویده
ما له عصیان اوګنا هو نو سره
دې له مستۍ او هو سو نو سره
ساقی له ډکو ګیلا سو نو سره
لا في د مینې دو فا اود مستۍ کو لې
حیا و یده وه.

❀ ❀ ❀

دا په مستۍ کښې زما له غیږې ړ نګیده ړ نګیده
زه په هو س اوپه ګناه کښې ډ وبیدم ډ وبیدم
له تږو تږو ارمانو نو سره
له ښکلو ښکلو عذ ابو نو سره
دزلمیتوب له کړ اوونو سره
دسبا وون رڼادستر پرده وچیرله
مینه ر سو اشوه

زندا نی ا شنا ته (۱)

بوی د کباب جک د ی له ګوګله دیارانو
بیاچیرې چازړ ه ا یښی په ا و ر دا نقلا ب
خوځی داجمل په زولنو کښې دغیرت چیغه
عقل د پښتو ن ته و ر کو ی نو ی شتا ب

(۱) ـ داشعر هغه وخت ویل شوی دی کله چه دپاکستان استعما ری حکومت دپښتنودسیا سی مشرانود عامی ګرفتاری ا مر صا در کړ

زوی دازادی‌دا نقلاب د مو ر په تی پو ر ی
لولی په‌خا پوړ و کښې د سر و و ینو کتا ب
ایل به زما نه شی خا مخا همد غه طفل ته
ر سی به دا طفل مر حلې ته د شبا ب
دواړه استعمار کړی یا کسنا ن د ی که‌فرنګ
توره خوشی نکړی چه ثوپاك نشی حساب
خلاص به‌ترینه نسي ای‌پښتو نه‌په‌زاریو کښې
ګرز ی په خا شا کو کله مخه د سیلا ب
سرد استعما ر دمار پخو ا تر چیچو و ځبه
وخوځه لاوخت شته خپل سنګر که انتخاب
ګډ ي زلزلی کړه‌ددښمن په‌زندانو نو کښې
کو ز کړه‌د ظالم زړه ته دتورې اضطرا ب

جاردې شم قربان دې‌شم‌فدادې‌شم صدقه دې‌شم
پام که خو شی نکر ي سر ه کړی دانقلاب

شپږ مه تر ا نه

تښتم له ښا ر ا و له ښا ر یا نو څخه
چونغره‌غیږ کښې دی یوه‌ځاله‌را کړه
دلوړ و تړو او کمر و په منځ کښې
خپلو شپنو سره یو ه‌تا له ر ا کړ ه
هلته به مینه او ورو ر ی شی پیدا
مر ض د لو ث ا و د فسا د به نه‌وی

د هري تيږ ي ا و پيچو مى لا ندې
و يره دد ا م او د صيا د به نه و ى
چه شپه خوره شي ستا په لوړو ځوړو
زه به د زر کو تر انې او رم
يا به ور ځمه په ور غا لو کښې به
د زا ړه شپو ن نه افسا نى ا و رم
چه ر مى وخوځى سبا ر ا شى
زه به له لو ړ و نه سپيد وته ګورم
يا به د ځوان شپو نکى نغمى ا و رم
يا به د ستر ګې ر ا ختو ته ګو ر م
چه لمر راتو دشى په کمرو کښې به زه
د يو ې ځيړ ى سيورى ته ځان رسوم
د چينى يخې ا و رنې ا و به به
سو ى کو ګل ته په ا ما ن رسو م
ما ښام به نا ست يم په يوه ګټه باندې
له سر ه شفق سر ه به ر ا ز و و يم
يا بـه د تا و ه د شپيلى په ژ بـه
قصه دز ړه دسو ز و سا ز وا يم
ګر زم به خاندم به مستى به کو م
دغر ه له زر کو ا ر هو سيو سر ه
غلا م د خلکو د غر و ر به نه يم
خير ن به نه يم غو ړ ما ليو سر ه

خپلو سپیڅلو ار زو ګا نو ته به
بی خو نده شوی شر مید لی نه یم
دور ور تر پښو لاندی کو وسره به
لو ړ و ځا یو ته ر سید لی نه یم

پیغام

تیر به شی کلونه مګر نه به شی
زمادغه رنګینې ترانې هیرې
محوه به شی ګور زما
کلی زما کور زما
مړ به نشی اورزما
تل به زه زغیږ مه شعرونو کښې له کام سره

❀ ❀ ❀

دادبیدر دی او نا پوهې څپې
زما هنر اومینه غرقوی نشی
تل به دافغان بچی
پورته دبامیان بچی
کښته دسیستان بچی
لولی زماسندرې له اغاز اوله انجام سره

❀ ❀ ❀

زماولس به یوسی هیوادونوته
زما دترانونوی رنګین ګلان
تل به دپښتو ژبه
دادلویو غرو ژبه

دغه د درنو ژبه
سانی زما شعر له فکرونو اومرام سره

❀ ❀ ❀

اې زما دځوانی تودوتو دوهیلو
ننوزیء دشعر ابدی کورته
یوسیء ولولې زما
پټی زلزلې زما
اوښکی قافلې زما
وروستو زمانوته ددې عصر له پیغام سره

❀ ❀ ❀

دوړ کتوب ارمان

بیړی دژوندانه مې دګرداب په لوری درومی
خبرې مې دموج اودسیلاب په لوری درومی
بنامې دآمالو دخراب په لوری درومی
ددرد اوبدبختی اودعذاب په لوری درومی
نظرمې ځکه غلی دکتاب په لوری درومی
ددرس اومدرسې داضطراب په لوری درومی

❀ ❀ ❀

بزګروای بې خبروای لویی دښتې مې کرلای
دغرو دځو کو شپون وای وری اومیږی مې پوولای
مزدوروای په غرمو کښې مې ډبرې ماتولای
بندی وای په زندان کښې مې میچنې ګر زولای

خو کاشکي دقلم په‌زبه نه‌وای پوهیدلای
دژوند دراز کتاب مي هرګز نه وای اړولای

❀ ❀ ❀

شپیلۍ چه دشپا نه دغرو په‌تړو کښې ز غیږی
آواز چه داوښبه په‌لویو دښتو کښې خوریږی
لنډۍ چه دبزګر له ساده فکر نه راخیږی
کوچیان چه‌د کږ دیوله اړخو سره ګډیږ ی
افسوس مي له‌دردو سره له‌زړه‌نه راخوځیږی
له اوښکو سره ګډشی تورو خاورو ته بهیږی

❀ ❀ ❀

نایابه هلکتو به‌چیرې ولاړې! چیرې ولاړې !!
په‌هیرو ورځو شپو کښې چیری ګرزې څه‌شی غواړی!
په‌تیرو زمانو کښې به‌چاخاندې په چاویاړې
په‌سترګو کښې مي ګرزې کله خاندې کله ژاړې

❀ ❀ ❀

غمونوته دې‌پریښودم پخپله رانه ولاړې
ورووروګلمونه اخلې دتاریخ لمنه نغاړې

❀ ❀ ❀

احساس می‌غلی شوی‌دماغیوپه اړخو ښې
ایمان‌می‌خیرن شوی‌په درواغوسلامو کښې
بی‌خونده بې مزې‌شوم په‌څوکیو په میزو کښې
پښتو مې ورکه کړی په‌فاسدوطبقو کښې

اورونه دی سوځل کړی په موټرو په قصرو کښې
ګران شوی ماته ژوند دی په دې خلګو په سړو کښې
سپږ مې مزه نه اخلی دګلوله وږ مونه
غوږونه مې خوندنه وړی درباب له ترانونه
احساس مې پردی شوی دښایست له جستجونه
رټلی یم دښکلی طبیعت له نندارونه
شعور مې ستومان شوی دې عصر له پیرونه
خیال مې مرور دی له دې نویو طبقونه

❀ ❀ ❀

لیکونکی : گل محمد نور زی

توفانی کیږدۍ

دمنی وروستی شپه وه‌دباد ونو اوتالند وغورهار د کیږی میخونه لړزول د لر به میرمن د کیږدۍ په‌لړزید وراویښه شوه د کیږدۍ مخی ته راووته‌دآسمان کاسی ته‌یې په ځیرځیر و کتل په‌یوه نظریی دآسمان ټوله لمن و لټو له‌دتور ووریځو په لمن کښې ستوری نه‌ښکاریدل دآسمان تندی دومره تریوو چه‌په‌لیدویې انسان ویریده په‌ویرژلی آوازیی وویل:

نن څومره وریځ ده ؟څومره‌سوړ بادلګیږی؟خیرزه به‌ولاړه هم‌د څښتن‌لپاره به مې ډوډۍ برابره کړم .

د کیږدۍ په‌تیاره کښې په‌څپ څپلی دګوډی خواته ورنږدی‌شوه ګوډی دومره تش پروت‌وتابه ویل چه‌په عمر کښې څه‌نه‌دی پکښې لویدلی.لاس‌یې‌په‌تش ګوډی څوشیبې بیحر کته پروت وهیڅ نه‌پوهیده چه‌څه و کړی په‌دی چرت کښې‌ډوبه وه چه دتالندې ناڅاپی غورهار پورته شو هیبت وهلې‌دلیونی په شانی دځا یه پورته شوه د کیږدۍ مخې ته بیاراووته دتوفان څپویې په‌سپیره مخ او شکید لی ټټر منګو لې لګو لې ساړه، توره شپه ،هرڅه‌ترې هیر شوی و و د نری لښتې په شان یوه خوا بله خوازنګیده .

دڅه په‌تمه یې بیادآسما ن‌څنډوته سترګی واړولې دافق څنډې لږڅه رڼا شوې وې دځان سره یې وویل رښتیا چه‌شپه خوخلاصه شوې ده خاو ند به مې‌را وېښ

کړم چه پخپل کارپسې ولاړشي، وړه نشته دبیګاه شپې فقط یوه مړۍ سوړ سو کړ ک پاتې دی هغه به ده ته ور کړم .

مګر باید دماشومانو څخه یې پټ ور کړم تر هغې چه دی بیرته څه دوړه راوړی ماشو مان به په یو اوبل شي، غلطوم په دې چرت کښې روانه وه چه د تا لندې غور هار بیا پورته شو. لر به په یوه دروند زګیروې سره وو یل :

ښځې ؟ و ښځې . . . . . .

هیچا یې خبر وته ځواب ورنکړ. دتوفان څپو هره ګړی د کیږدۍ سره پهلوانی کوله په غلی آواز یې وویل: داسې معلومیږی چه د آسمان حال ډیر خراب وی ستر ګې یې د کیږدۍ وره ته د نیولې بیایې ښې وموښلې دسباوون رڼا د کیږدۍ له سور یو د کیږدۍ منځ ته ورننوتلی وه په چاودو پښوله ځایه پورته شو ګوډ ګوډ د کیږدۍ وره ته ورنږدې شولو مړی نظر یې پخپله ښځه خښ شو چه دلوڅې څاتګې په شان دتوفان څپو یوه خوا اوبله خوا ځنګوله دسباوون بادیې دوچ پیکې سره لوبې کولې لر به دچاودو پښونه زګیروی وکړ بیا یې په ډیر تعجب سره یو ښتنه وکړه :

څنګه ولاړه یې ؟ شپه څنګه بریښې ؟

ډیر خوند یې نشته وچ بادلګیږی وریځ هم ډیره ګڼه ده . . .

په هر صورت زه باید غره ته ولاړشم. دومره خو باید څه وګټم چه شپه ور باندې تیره شي. ساړه به نورهم زیات شي، اوس وخت دی. لور، تبر ښکاره کیږده زه هم لاس په لاس راګرزم په خره کته واچوه مګر بیړه کوه چه مازدیګر لږ څه وختی راوګرزم که داوریځ وی اوناو خته هم شي . . . . . .

میرمنی ئې په غلی آواز وویل: هر څه برابر دی، دوړه نشته خر کته کړی ولاړ دی. فقط لور او تبر در سره وا خله ولاړ شه چه دهوا حال ډیر خراب ښکاری

. که چیرې هوانوره هم خرابه شوه ښه داده چه دلارې نه بیرته راوګرځې.

نه ـ نـه بیر ته نشم را ګر ځید ای که با ران هم شروع شی زه بایدخامخا څه د شپې لپاره راو ړم که ورځ ډیره خرابه شوه نو مجبور یم چه د لرګیو بار په ارز انه بیه ور کړ م. که دا کاروشوڅو مره به ښه وی، مګر ګوره چه زمونږ بخت به څنګه وی.....

. . . . . .

ـزه ولاړم دما شومانوښه ساتنه کوه. زاړه لر به داخبرې لانه وې خلاصې کړی چه دتو فان څپو یې اوازګډوډ کړ نور نود یوه خبری بل ته نه رسید ې دتوفان څپو په مخه واخیست. دوچې پاڼی په شان یې په ټوپو کړ. میر من ئې د کیږ دی په مخ کښې ولاړه د خپل څښتن نند اره یې کوله ، تر څو چه د شپې په ورستی تیاره کښی له نظـره ور کـ شـودلر بـه میـرمـن د خپلو ما شو مانو په لوری راوګرزیده لکه بت دهغوی په څنګ کښې ولاړه وه په ماتوغړویې داورپه لګولو پیل و کړ، ما شو مان ورو ورو له خو به راپور ته کیدل د چرګی خواته به چه رانږدی شول دمورلمد وسترګو به ئې دځان توجه راواړوله. حیران به ئې ورته و کتل امایوهم نه پوهیده چه دڅه دپاره اوښکې تویوی. د کیږدی خولې ته چه به رانږدې شول دباد څپو په مخ ووهل بیرته به وګرځید ل. دچرګی نه به چار چار پیره حیران کښیناستل دچرګوړو په شان به ئې ورو ورو دمور سینی ته ځان نږدې کاوه.

هرڅومره چه ورځ پخه کیده سړوزور اخیست، دوریځی او باد سره دبارا ن شړك یوځای کیده په ماشومانو باندې دلوږې ا حساس غلبه کو له ، په ژړه غو نی آواز به یې وویل:

ادې !ډوډۍ!! ... دې آواز سره بهئې موربې ارادې پورته شوه د کیږدۍ خولې نه بهیې دصحرامخ تهو کتل ولې دصحرا مخ دومره غبار نیولی وچهلس قدمه دمخه څهنهلیدل کیده ترهغې بهولاړهوه چهپښې بهیې دیخ نه در نی شوې پهډیره مایوسۍ سرهپس راوګرځیده پهنرم آواز یې ماشو مانوته وو یل : یوهشیبهوروسته بهمو یلار راورسیږی هر څه بهیې دځان سره راوړی وی تاسې غلی شی ء لږ صبر وګړیء ماهلته ډیرلیری ولیده چه راروان و،ډیر زر بهراشی ...

پهدې چمیې دژمی سړه ورځ پای ته ورباندې ورسوله. باران په ډیر شدت سره روان و، صحراټولهاو بواخستیوه یو نیم بوټی بهدلری څخه دمرغابی پهشان دصحراپه اوبو کښې ښکاریده.

فقط هغه وړهغونډیوه چه دجزیرې پهشان دصحراپهاو بو کښې پر تهاودهرې خوایې رابطه شکیدلیوه دصحرامخ سیندته ورته شوی و، دهیڅ ژوندی ساری نغمه نهاوریدل کیده یواځې دباد اوباران څپې وې چهدش، هین پهشان به یه منډه له غوږو تیریدې اوهره ګړی بهیې د کیږدۍ سره ټټر جنګاوه ...

. . . . . .

هیڅوك نهپوهیدل چهورځ کوم ځای تهرسیدلیده په ما شو ما نو بیا دلوږې احساس غلبهو کړه پهلوړ آواز یې وویل : ادې !ډوډۍ!!دهغه آواز لاتهو کرارشوی چهپرله پسې دماشومانوزوږپورتهشو،ډوډۍ ... ډوډۍ ...

غمځپلی مور پهپټهخوله دچرګۍ نهپورته شوه، د کیږدۍ خولې ته ودر یده د کیږدۍ یوه خوا بله خوا یې و کتل داو بو وړو وړو لښتو ته یې وار په وار سترګې واړولې چهد کیږدۍ له پیڅونهئې اوبه دصحرا کاسې ته ور رغړ ولې .

دصحرا کاسې ته یې وکتل یو څوک ډیر لری ښکاره شو، چه دهغې کیږدۍ په لوری ورروان و. کله به کښیناست کله به پورته شو- دماښام تیارې سره یو ځای د کیږدۍ خواته رانږدې شو. په مټی دومره وپیژندل شو چه هغه غم ځپلی زوړ لر به دی.

خالی وزرونه د کیږدۍ خواته روان و. غم شریکه میرمن څو قدمه مخ ته ورغله بچیان یې دروزی په تمه وغنځیدل. کیږدۍ مخې ته یې ورمنډې کړې اما دپلار سره وضعه تش لاسونه ددې پیغام وچه زه نورتاسې ته روزی نشم رسولای دروزی وسیله بالاخره دزمانې توفانونو اوسیلابونو په خپل لاس غرقه کړه.

نورزما په لاس کښې هیڅ شی نه دی پاتې. لوندخشت دچرګۍ غاړې ته وغزید دساړه نه ئی زامې ناستې وې سترګې یو اځینی رابطه وه چه دخپلو وږو ماشومانو په لور یې نیولی وې شونډې ئې بی ارادې خوځیدې، دڅه ویلو توان یڅنه درلود، هرڅه چه و دهغه دوومأیوسو سترګو په نظر کښې وچه دوږو ماشومانو بی وزلی ښځی خواته یې رډې نیولې وی. او حیرت وهلی پروت و. ماشومانو دوږو مرغانو په شان شور کاوه.

اماله هیڅ پلوه یې دامید زمزمه نه ارویده دوړو مرغانو په شان یې وزرو نه رپول دمړژواندی پلار خواته یې دروزی په امید سترګې نیولی وې. د باران توفان اوږو ماشومانو زوږیو ځای هواته جګیده اوور کیده.

دماشومانو مور دخپل څښتن سوی څیرې ته مخامخ هکه پکه ناسته وه دخپل څښتن دشونډو بی ارادې حرکت یې لیده چه ورو ورو کراریزی دسترګو توری یې واوښتل او په ابدی خوب ویده شو، باران او توفانی کیږدۍ د شپې په انقلابی تیارو کې یو ځای پاتې شول.

(پای)

ع ، قتیل خوږ یا نی

خوږ خیال

چه دې زلفې له رخساره تاو یدې توري شپې مې دغمونو اوږ دیدې
چه دز لفو چتر پور ته شوله مخه ارزو کانې مې پەزړه کښې گرزیدې
چه په قهردې کتل زما ار ز و ته خوارې اوښکې مې په مخ رابهیدې
چه رقیب ته دې مسکا په رموز و کړه ما د عمر شپې حیر انې و لیدې
چه زلفې بیا پریشانې پەسپین مخ شوې پر یشانی مې په زړ گی راخپریدې
درقیب سره مشغو له په خند او ې خو په ما با ندې بې ځایه قهر یدې
په غلطه چه به ما ته په خند اشو ې تیرې، هیرې ،خا طرې رایادیدې
چه به ستا لیو نی مینه شوه را یا ده جذبې مې په زړ گې کښې پاریدې
چه به کله په غوسه کله مسکی شوې خوږې هیلې مې دزړه راتخهیدې

د« قتیل» پر یشا ن زړ گیه پریشا ن گرزه
چه د یا ر په قسمو نو غو لیدې

محمد عالم اتمان

(ها پیژ نې؟)

هادلو ړ و بیر غو ښا ر — ها چه مینه دعنقا و ه

هاد ښکلو منا ر و ښا ر — ها چه ځا لـه د هماوه

هانغـر ی د سپین تـمنو — ها چه لا رد او یستا وه

هاز انګو د مولانا هو ا — هاچه پو ه پکښې بسیاوه

هاډیوه دشرق وغرب هوا — ها چه پو هه یې رڼاوه

ها ټا ټو بی د بـرمکـو — ها چه خو نه د یحیا وه

ها و طن د بو علې پوه — ها چه خا وره د سیناوه

هاد یارد تمد ن زمو نږ — ها چه ښاده یې د نیاو ه

هاتاریخ چه به ستایه ډیر — ها چه ډیره یی وینا وه

هاغه ویا ړدز مانې خپل — ها چه ښکلې پې ایشیاوه

هادغو ر نـیکه نیو که — هاچه څو پیړۍ پخواوه

ها ګد ی د جلا ل برم — ها چه نا سته د یماو ه

ها چه بلخ با ختر با له شیی اومشهور هم په بخد یا د ه

ها ور بوی د پښت پایتخت دی، او په اسل کښې پختیاده

پته

غازی واټ، شمالی برخه، نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

دتلیفون لمبر ۲۰۳۵۰

د کابل مجلې دتیلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراک بیه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰

د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

دباندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوې کښې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانک

او اطرافي ځایند کیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراک بیه په ادارد کښې هم اخېستل کېږي

KABUL

Monthly Journal Of The

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy.....: Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Sidiq Rohi

Coeditor : M. Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه